

Ketabton.com

# وروستی ارمان

ناول

رفیع الله روشن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستی ارمان

(ناول)

لیکوال:

**رفیع الله روشن**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: وروستی ارمان

لیکـــوال: رفیع الله روشن

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېـبپـانـه: www.melitahrik.com

کمپوز: لیکوال

ډیزایـن: فداحسین

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چاپوار: دويم

لیکوال د خپرونو لړ: (۶)

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۱۰۶)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ټولو هغو ناول لیکونکو ته چې د ناول لوستلو او ښکلیو الفاظو او تورو یې ماته هم د ناول په نامه دیوه جونګ د لیکلو ځواک راکړ او خپلې سپوږمۍ ته چې د خپلې مینې د نړۍ په رانه اسمان کې له ستورو یې راته قندیلونه جوړول له خیال سره غاړې وبستم او د غه ناول یې تاسو لپاره را باندې اماده کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوټکي

دهغه ستر ذات په سپېڅلي نامه چې دنیا ، اخرت ،ځمکه او اسمانونه یې پیدا کړل اوبیایې ددې لویې ځمکې پرمخ پر ټولو مخلوقاتو انسان مقدم او بهتر وګرځاوه.

قدرمنو او زړه ته راتېرو لوستونکیو ،پوهېږم په هره برخه کې چې وي یوه کرښه لیکل هم د ېر غټ زړه ، پوره جرئت اولوی استعداد اوپوهې ته ضرورت لري،زه استعداد او پوهه نلرم بلکې زړه او جرئت مې کړی دی،چې دیوڅه د لیکلو لپاره مې قلم په زحمت کړی ،هېڅ زړه نشم کولای چې ستاسو په لاسونه کې د ورستي ارمان ناول باندې یوه کرښه هم وکاږم ځکه چې په خپله مې لیکلی،حتی له بلې ژبې مې هم ندی ژباړلی او زه کله هم په خپله لیکنه نظر نشم ورکولی، خوږو ورونو اوخویندو پوهېږم تاسو به تردې وړاندې هم د ېر ناولونه ،لنډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسې او داستانونه لوستي وي، ډېرخوند به مو ورځنې اخستی وي او ډېربه یې له ځانه سره اخستي یاست ،ځکه چې ډېر ناولونه په خورا مهارت لیکل شوي وي، دالفاظوښکلاپکې دومره ډېره وي چې ښځي لوستونکی یوې بلې دنیاته بیایي،دا خبره ځکه کوم چې زه پخپله دناول او کیسو ډېر مینه وال یم.

زه تاسوته دانه وایم چې ورستی ارمان ناول ددې لپاره ولولۍ چې ډېرخوندور دی اویا هم په ډېره خوږه کیسه راڅرخي مګردا درته وایم چې تاسو ورستی ارمان زما دځان ستړی کولو زحمت وښستلواو شپو رڼو سبا کولو ارزیابي کولو لپاره ولولۍ او ارزونه یې وکړئ چې په دې ارزي او کنه؟ ستاسو لپاره همدومره او په اخر کې دا په ځان فرض ګڼم چې د سپین زر میلاد کمپیوټري مطبعې له رئیس ښاغلي وحیدالله مایار څخه دزړه له تله مننه وکړم چې دورستي ارمان دچاپ لګښت یې په غاړه واخیست او ستاسو ترلاسونو یې در ورسوه.

دهېواد د ابادۍ او تاسوټولو ته د ښه ژوند په هیله

رفیع الله روشن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل:

دملک ښېر په اولادونوکې اکرام دخبرې هلک و ، هغه له کوچنیوالي زیرک او ُپرکاره هلک وو ،له زده کړو سره یې بې کچې مینه وه ،

دعمر په لحاظ کوچنی وو خو دتجربې او فکر په لحاظ سم بابا و ،په کلي کور کې په ټولو ډېر ګران وپه کروندوکې چې به چا ولید نو کوچنی بزګر یې باله،داچې په کور کې یې له مورسره په کارونوکې برخه اخسته اکرام لومړی شخص وو چې په اخلاص او دیوې لور پشان یې دهغې لاسنیوی کاوه،دکلي نجونو به ورته اشپز ویلې،همداچې وبه یې لیده دشوخۍ په ډول به یې پرې غږ وکړ،نن دې څه پاخه کړیدي؟

په دې سره به اکرام غوسه کېده ،نجونوته به یې بدې ردې ویلې،ورته ویل به یې شرمېږي نه چې داسې وایۍ؟ خو هغو شوخو جنکیوبه هم دده له غوسې او خبرو خوند اخست.

یو وخت اکرام دکلي له څو نورو هلکانوسره له خپل ولایت څخه سلګونه کیلو متره لرې یوه بل ولایت ته دمزدورۍ لپاره ولاړ ، که څه هم پلار او کورنۍ یې نه پرېښوده ،خوبیاهم ولاړ ،هغه ولایت داسې و چې ډېرې ولسوالۍ یې له مخالفینوسره وې،همدالامل وو چې دژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



داړتیا وړ ډېروشیانو ته په اسانۍ سره لاسرسی نه پیداکېده،خصوصاً صحي اسانتیاوې،په هغه ځای کې به ډاکټر یوناروغ ته،یوه پیچکاري په پنځوس افغانۍ تېروله،یوسیرم په سل اویو عادي پانسمان یې په ۳۰۰افغانۍ کاوه،داچې اکرام ته د پیچکارۍ ،سیرم تېرولو اوپانسمان چل یاد وواوپه کلي کې یې ډېرو ناروغانوسره دډاکټرانوله هدایت وروسته په یادو ضروریاتوکې مرسته کړېوه،یوه ورځ ورته یو ناروغ چې اقتصادي وضع یې هم ښه نه وه،دډاکټرانو له ظلمونو سر وټکاوه، اکرام ورته وویل له دې وروسته، ډاکټرته ورنشې،زه درته پیچکارۍ کوم،ناروغ همداسې وکړل،څو پیچکارۍ چې اکرام ورته کړې وې،نو ناروغ په خپل کلي کور کې ویلي وو چې دلته یو هلک دی په ډاکټرۍ پوهېږي،خو مزدورۍ ته راغلی دی.

له دې وروسته به ډېرناروغان چې پخوانی ناروغ سلیم به یې مخکې راروان وو ،داکرام خواته د پیچکارۍ یاپانسمان لپاره راتلل.

اخر داشو چې اکرم په هغه ځای کې په کوچني ډاکټر مشهور شو ،بیابه خلکو کاراومزدورۍ ته نه پرېښود ،ورته ویل یې چې ستا ملګري دخپلې مزدورۍ څومره حق الزحمه اخلي،موږ تاته دهغې دوه برابره درکوو ،ته به کارنکوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې سره به د اکرام ورسره تلليو ټولو ملګرو رخه کوله او تل به ورته قهرجن ول.

کله چې له هغه ځای څخه بېرته خپل کورته تلل نو د کلي مشرانو ورته وويل: کوچنی ډاکټرصاحب! که ستا ملګري نه خوابدي کېږي نو ته له دې ځایه مه ځه، تاته موږ دلته ډېرې اسانتیاوې برابروو، څنګه چې هغه خلک د ځايي ډاکټرانو څخه ډېر تنګ شوي وو او ټول يې د پلې پرق ته کېنولي وو نو ټولو اکرام ته همدا خبره کوله، خو اکرام او ملګرو يې نه ورسره منله ځکه هغه ولايت ډېر ناامنه وو، هره ورځ به دوه درې مړي د دوی په شا وخوا کې موندل کېدل.

د اکرام له کلي په تګ له خپلې کورنۍ څخه نور خلک ډېر خفه وو، کله چې له مزدورۍ راوګرځېدل، په کابل کې ورته يوه دنده پيدا شوه، چې دی ډېر ورسره خوشحاله و، اوس د هغه په کور کې کوچنۍ خويندې دومره را لويې شوې وې چې د اکرام پرځای يې د مور له لاسونو لاندې اوږې ورکولې او د کور کارونه يې ورسره سمبالول.

همدارنګه ترده کشرانو ورونړيې له پلار سره سمه همکاري کوله، دی به په مياشت کې يو ځل کورته راته، درې څلور ورځې به يې له کورنۍ او ملګرو سره تېرې کړې، بېرته به ولاړ.

يوه شپه لس بجې له دندې کورته راغی، دژمي موسم و هوا ډېره يخه وه، چې راورسېد يوا ځې مور يې ويښه وه او د خپل ځوی د راتللو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دانګړ دروازې ته کتل،اکرام يې ولید، چې حوېلۍ ته رانوت،دخدای پاک شکر يې اداکړ،ورپورته شوه،سترې مشي اوښه راغلاست يې ورته وویل ،موریې دډوډۍ او چایو ورته وویل،خو اکرام انکار وکړ.

نه مورجانې ! نه يې خورم،سترې شوی یم خوب راځي،جنګۍ هم ويدې دي،نو پرې يې ږده چې خوب وکړي،زه وږی نه یم،ته هم استراحت وکړه،چې ډېره ناوخته ده،دواړه دخوب ځایونوته ولاړل،سهار د کورنۍ ټول غړي لوی او واړه د چای څښلو په خاطر په یوه دسترخوان سره راټول شول،داچې اکرام دشپې ناوخته راغلی وو ،نو کوچني ماشومان ټول ويده وو ،په همدې خاطر سهار ټول ورنه را تاو ول، دی يې د مور څنګ ته ناست و،لایې کاسې ته لاس ور اوږود کړی نه وو چې په جېب کې يې موبايل وشرنګېد ،دزنګ له راتللو سره يې مور ورته وکتل،په ترخه موسکا يې وویل:

زویه !یوخوستاملګري هم سم پېریان دي،دمه دې لا جوړه نده،بيا يې درپسې زنګونه سرکړل، موبايل يې ورنه کش کړ،بس چې هرڅوک وي خپل کاربه کوي، خپل چای دې نوش جان وسکه، دوی دوی بېکاره دي.

خوداچې شمېره نوې وه او ويې نه پېژندله، ورته يې وویل، مورې ! کوم بل څوک به وي،کاربه يې راسره وي، زما کوم ملګری ندی ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی ټولو شمېرې له ماسره ثبت دي، خو داشمېره بې نومه اونا اشنا ده، موبایل یې ورکړ،ماشومانوته یې وویل غلي شئ، چې اواز واورم، زنګ ډېر اوږد شو، نور دبندېدوپه حال کې وو چې د تائید تڼۍ یې کېکاږله،دهغه عادت و چې چاته به یې زنګ واهه اوکه بل چابه ورته زنګ ووهه نو دخبرو پیل به یې ورسره په سلام کاوه،ډېرې خلک دي چې دفون کولو په وخت کې (هلو،بلې،اورې اویانوراصطلاحات کاروي ،نوبې سلام اداکړ،له هغې خوایې ډېرټیت ،کمزوی اوزړه نازړه اواز ترغوږه شو،(سلام شماکی هستین؟)اواز دنجلۍ وو،په دري یې خبرې کولې، ځواب یې ورکړ زنګ تا وهلی دی باید چې ته ځان راوپېژني،کله یې د مور، پلار او کورنۍ دنورو غړیو په مخ کې له نجلۍ سره په موبایل خبرې هم نه وې کړې،لکه د لاروركي پشان یې اخوا دېخواکتل،خودا ښه ووچې خدای یې پرده وکړه اړیکه پرې شوه،ده هم سرپسې ونه ګرځاوه فکر یې وکړ شمېره به یې غلطه کړې وي، لس پنځلس دقیقې وروسته بیا زنګ راغی هماغه شمېره وه، اوس یې نو چای څښلی وو، ښه یې اشتها صافه وه،له کوټې ووت له حویلې دباندې یې ځواب ورکړ، خو نجلۍ بیا خپله لومړۍ خبره تکرار کړه،چې ته څوک یې او زما شمېره دې له کومه کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام ته یې خبرې دمسخروپشان ښکاره شوې،ورغبرګه یې کړه،داچې زه څوک یم، وروستۍ خبره ده،خوته ځان ځکه راوپېژنه چې زنګ دې وهلی دی.

نجلۍ وویل چالاکي مکوه،سم حال راته ووایه، چې شمېره دې له کومه کړې، ځکه چې له دې شمېرې نه دشپې په لس بجو زماموبایل ته زنګ راغلی وو خوداچې زه ویده وم اونه وم پرې پوهه شوې ځواب مې ندی درکړی،دنجلۍ خبروته یې زړه تنګ شو ورته یې وویل:

وګوره که ته غواړې چې خپل ساعت تېر کړې نو کوم بل چاته زنګ ووهه او ما مه چېړه، خو نجلۍ په خپلو خبرې کې جدي ښکارېده، قسم یې ورته وکړ چې همداسې ده ،لکه څرنګه چې مې وویل،خو اکرام ځکه نه شوای منلی چې زنګ یې ورته نه وو وهلی اونه یې له نن څخه مخکې داشمېره پېژندله، داخل یې خبرې په همدې کشمکش کې تر پنځلسو دقیقو واوښتې، اجازه یې ترې واخسته ،خو ژمنه یې ورکړه چې زه بیادرته فون کوم.

دفون له بندولوسره سوچنو کې سر شو،ای خدایه !دابه څوک وي،ایاپه رښتیاهم همداسې ده لکه دایې چې وایي؟بیابه یې وویل هسې نه چې ددفترکومه همکاره مې وي ،یامې په خپلوانوکې کومه یوه نه وي او غواړي به چې ماوازمایي ،چې څومره له نجونوسره خبرې کول غواړم دفون له لیارې اوپه دې ویروس ترکومې کچې ککړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یم،له ژمنې سره سم یې زنګ ووهه ورته،خبرې یې بیاهم په پخوانۍ موضوع څرخېدې،اخر یې ورته وویل یوځل خو دې ځان راوپېژنه چې څوک یې،دکوم ځای یې،متعلم یې،محصل یې او که کومه دنده لرې؟

ځان یې په تمامه ورته معرفي کړ،له دې وروسته،هغې هم ځان وروپېژانده،نوم یې ورته مریم وښود،ویل یې چې په ننګرهار کې ژوند کوي اوپه یوه ولسوالۍ کې دنجونو لېسه کې د۱۲م ټولګي زده کوونکې ده،پلار یې نظامي دنده لري.

اکرام له دې مخکې هم په مبایل او مخامخ له ډېرو نجونوسره خبرې کړې وي،لکه په دفتر کې له همکارانو سره،په کورسونوکې له همصنفیانوسره اوهمدارنګه په دېری ورکشاپونوکې،خوکله یې هم له کومې نجلۍ سره په داسې دلچسپۍ اوخوږه لهجه خبرې نه وې کړې، خوددې په خبروکې یوډول عجز،سپېڅلتیا او له اخلاقي فساد څخه پاکوالی ورته ښکاره شو،احساس یې ورته دروند معلومېده.

هغې به اکرام ته ویل چې اواز دې ډېر راته اشنامعلومېږي،په یو افغاني ټلوېزیون کې یې دیوژورنالېست نوم یې ورته واخست چې ستا اودهغه اواز کټ مټ یوشان دی،هغه ورته وویل شاید همداسې به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځه وخت په تېرېدوسره يې دومره له اواز سره اموخته شو چې که ډېرکله به يې ورسره خبرې ونکړې نو داسې به و لکه ډېريولوشی چې يې ورک کړی وي.

دنجلۍ لخوادورکړل شويو معلوماتو له مخې يې ورپسې پلټنې پيل کړې،دهغه زړه اوس هم سره له دومره مينې اوبار بار خبروکولو پرې غل وو ،هېڅ ارام نه ورته،ويل يې هسې نه چې دې نجلۍ کوم چل راته جوړ کړی وي اوکوم کار راته ونه ګوري.

اخر داشو چې دنجلۍ کورنۍ يې ديوملګري په مرسته پيداکړه، اوټول معلومات يې په لاس راوړل،دهغې دپلار،ورونو ترونواو نوروخپلوانو نومونه يې يادکړل.

يوه ورځ يې خبرې کولې چې نابېره يې دهغې دورور نوم له خولې ووته،له دې سره دنجلۍ ستونی بند شو، په وارخطايۍ يې وپوښتل هغه څه پېژنې؟ده ژر ځان ناجانه کړ،هوهغه خو زماملګری دی همکار مې دی،ډېرښه هلک دی،خوهغې مکمل باور لاره چې اکرام دهغې ورور ښودلی دی نه کوم بل څوک،نويې ورته وويل:ماله اول نه فکر کاوه چې ته به مورږ پېژنې او زمورږکوم نژدې خپلوان يې،بس دی نور زه لتا سره خبرې نه کوم اوهيله کوم راځه چې يوبل هېرکړو، هغه ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورګوه مریم! زه نه ستاله خبروسره ډېره دلچسپي لرم اونه ستا په هېرولو کې کومه ستونزه نه لرم،مګر مالا تر اوسه ستا کور،پلار،وروړنه اونور څوک ندلي ليدلې خوکه وغواړم ډېر ژر يې موندلای شم،ورته يې وويل ځکه چې زه يو ژورنالېست يم، اوپه هر ډول چې وي ستاپه اړه کره معلومات په لاس راوړلی شم،خوهغې ويل داچې زه اوته خبرې کوو نوبه څوک هم نه خبرېږي،نه ستاکورنۍ اونه هم زما.

اکرام ورته وويل: که چېرې تاته ستونزې جوړېږي نو ښه ده چې له خبرو کولو ډډه وکړې خو زما لخوا بېغمه شه.

اکرام مریم ته داخبره دومره په کلکه وکړه خو له خپل زړه خبر نه و چې زړه يې څه وايي اوس هغه دومره له مريم سره بلد شوی و، چې که چېرې د يوښکلي نجلۍ مثال راوړي نو دا پکې نالیدلې يادوي داکرام زړه داګواهي ورکوي چې هغه هم زما پشان ده،اوتل غواړي چې خبرې راسره وکړي، له نژدې راسره وګوري خو د پښتو اوپښتنو ځينو رسمونو او بنديزونو له امله يې قسمت ياري نه کوي.

يوه ورځ وه چې مريم ورته وويل داچې زه اوس تادخپل زړه يوه برخه بولم او هېڅ خبره له تا نه شم پټولی نو غواړم يو حقيقت درته ووايم.

داکرام په زړه دډار ساړه ننوتل،فون يې غوږ ته ښه نږدې کړ،يوخوهغې تل په ډېر ټيټ اواز خبرې کولې چې هېڅ نه اورېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدي ،هغه داچې تراوسه ماله تاسره کومې خبرې کړې یوائې یوه خبره مې درته صحیح نده کړې نورې زه دخدای په نوم قسم کوم چې ټولې رښتیا اوسمې دي،که راته غوصه کېږي نه ،نو درته وایم یې،خواول ژمنه غوارم چې غوصه به نه راته کوې.

ـښه سمه ده ووایه څه دي؟

ـهغه داچې زمانوم مریم نده ! !

داکرام سر ورباندې وچورلېد ،په فکر یې بوج راغی،د اورېدوزغم یې نه لاره،دخوشبوئي لپاره غلی شو هغې ورباندې نارې کولې خو دی چپ و ،په پنځو میاشتوکې لومړی ځل وو چې غوصه یې ورته راغله په ډېرې غوصې سره یې ورته وویل،داکوم حماقت دی چې ته یې کوې؟

بېرته یې ورغبرګه کړه هیله کوم،اکرامه !ګوره اول مې درته وویل چې غوصه به نه راباندې کوې، زه ستاله غوصې ډېره وېرېږم،ته خوغوږ شه چې څه درته وایم،خواکرام چې خپله غوصه یې نه شوه کنټرول کولای ورته وویل بس دی نورهېڅ نه غوارم ستاله خولې یې واورم همدومره بس دی اوکفایت کوي،له نن نه اخواستالپاره اکرام دتل لپاره مړ شو ،خوهغې ویل هیله کوم،اکرامه داته څه وایي څومره ژر د ژوند او مرګ فیصلې کوې داخو شکر دی چې ته دمرګ ملکه نه یې کنه تاخوبه د نیا ټول ساکښنان لا ډیر پخوا وژلي وای او اوس به دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هېڅ هم نه وای پاتې، فون بندنکړې قسم يې ورکړ،چې مبايل وربانديې قطع نکړي.

اکرام ورته وويل ښه نو ژروايه چې نوم دې څه دی،خودې بياورته وويل چې نه اوس نه اوهيله کوم ته مې مجبوره کوه هم مه،ځکه چې زه يې پخپله درته وايم،انشاء الله ډېر ژر،په همدې خبره يې فون وربانديې بندکړ،قهر يې شېبه په شېبه زياتېده، ځانته هم قهرجن شو،چې زه ولې دومره خوشباوره يم،ماخوله مريم ځخه هېڅ خبره پټه نکړه،نوبياولې دې لماسره دومره لويه دوکه وکړه،فکر يې بدلون پيل کړ،په خپلوټولوباورونو بې باوره کېده،دزړه دګرمايش ستنې يې مخ په ښکته حرکت وکړ،نن يې په دفترکې هم کار خوندورنکړ،هرڅه يې په خپل ځای پرېښودل،اطاق ته ولاړ ګروپ (برق) يې مړ کړ،اوږود وغزېد،هرډول اندېښنې يې مېلمنې شوې،له ځان سره يې جنګ پيل کړ،داسې لکه چې يې مريم په مخ کې ناسته وي، يوځل يې پرې چيغه وکړه، ولې مريم اخرولې تاله ماسره داسې وکړل؟

دهغه په شونډو اوزړه د مريم نوم اوس سم لکه مهر ټاپه شوی وو،يوځل يې سرته څنډ ورکړ نه نه! هغه لماسره هېڅکله هم داسې نه کوي، ټوکې به يې راسره کړې وي، هغه مريم ده،هغه له ماسره ډېره مينه لري،زه ورته ترهرچا ډېر ګران يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ورځې يې زنګ ورته ونه واهه زړه يې نه صبربېده،دربيمه ورځ هغې زنګ ورته وواهه خوده ځواب ورنکړ،هغې بار بار هڅه وکړه خو ده ويل بس دی نوره دې نه غواړم.

اخر يې ډېر په تنګ کړ،فون يې وربانديې اوکې کړ، له هلوسره يې په کړس وخندل،خونن يې خنداډپنځومياشتومخالفه اوبل شان وه،حيران يې کړ،ددې لپاره چې ځان اوس هم غوصه اوورنه خفه وښايي،غوسه شو ورته.

ـغلې شه نوره خدای ته وګوره ماهېرکړه،ته مانوره هېره کړې يې.

مريم وويل: هيله کوم اکرامه ! ته ولې داسې کم حوصله يې،زه خوبه ځان له تانه قربان کړم،ته خوزما روح يې ،څنګه دې هېرکړم،دادی هرڅه درته وايم،هيله کوم يوځل خويې دويلو چانس راکړه.

اکرام چې همدايې غوښتل ورته وويل هرڅه چې وايې ووايه ځکه نور نه غواړم ستا دا فريبکاره اوازواورم.

ـ وګوره اکرامه،زما نوم مريم نه بلکې (زينت) ده،اوهيله کوم ته له مانه په دې مه خفه کېږه،تاته معلومه ده چې اوس وخت ډېرخراب دی،اوداسې دزړه مينه کوونکي اشخاص ډېرکم او په سختۍ پيدا کېږي،نو ځکه ما داسې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام ورته وویل خو زه به څنګه په تا باور وکړم،تاخوزما ټولې هیلې مړې کړې،زه دې مړ کړم،ستالپاره زما احساس ختم شو،تاخو لماسره ډېره لویه دوکه وکړه ،زینت ورته وویل وګوره ګرانه ! دا دوکه نده،ته زماخوښ یې،زه له تاسره مینه کوم،دزړه مینه درسره کوم،ماله نوروخلکوسره هم خبرې کړي دي خو قسم کوم ،چې یوه ته مې هم دمینې اویاساعت تېرولوپه نیت زنګ ندی وهلی اونه مې هم دا چانس چاته ورکړی دی،ما دلته ډېرو راډیوګانوته په بېلابېلو پرګرانونوکې زنګونه وهلي او له چلونکوسره یې ما خبرې کړي ،خوهغه خبرې تنها په پروګرام کې د سندرې غوښتنې،اویاهم کوم فرمایش پورې محدود دی،که باور نه کوې کومې خبرې چې ما له راډیوګانو سره کړي دي ټولې راسره ثبت دي،که غواړې زه یې په تا داورېدلوکې کومه ستونزه نلرم،هر وخت چې وایې زه اماده یې چې تاته یې واوروم،خو داسې هېڅ نشته چې ستا زړه دې په ما غل شي.

اکرام هم ورته وویل سمه ده زه غواړم ستا ټولې خبرې واورم کومې چې تا په راډیوکې له هلکانو سره کړي دي اوڅه دې ویلي دي،نجلۍ ورسره ومنله،سمه ده وایه د چاپه لاس یې درته واستوم او ځای راته وښایه،اکرام ورته وویل سمه ده زه بیا درته وایم.

هلک له ځانسره کرل رېبل پیل کړل،ښه نو اوس څه وکړم،په دې جلۍ بیاهم باور وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې کې وو چې مبایل ته یې زنګ راغی،نه یې اوکې کاوه،زړه یې نه کېده چې خبرې ورسره وکړي،شمېره نابلده وه،بنده شوه،بیا یې زنګ وواهه ده هم اوکې کړ، د یوه نړیوال ټلوېزیوني چینل په سهارنۍ خپرونه کې چې په ژوندۍ بڼه نشرېده،اکرام ته دګډون بلنه ورکړ شوه، دخپرونې دپړاو یو سرلیخوا موضوع روښانه شوه،چې سبا به پرې خبرې کوي،اکرام هم دورتللو ژمنه وکړه.

دشپې لخوا یې زینت ته ټېلیفون وکړ،خو دهغې شمېره بنده وه،مجبور شو چې پیغام ورته پرېږدي،په پیغام کې یې ورته ولیکل:

ـ سلام یو خوستا شمېره په دې ورځوکې ډېره بنده وي،خیر په هرحال،که غواړې چې ما ووینې نو سباسهار له اوونیموبجوتر اتو پورې (S )ټلوېزیون خپرونه وګوره،ددې په خاطر مې درته وویل چې بیابه رانه ګیله کوې چې یوځل خوبه دې خبره کړې وم، دادی ماخپل مسؤولیت اداکړ.

سباچې زینت له خوبه پاڅېدلې وه،خپل موبایل یې کتلی و،ګوري چې خاموش دی،ژر یې خلاص کړی و،داکرام پیغام یې ولوست،چې اوونیمې بجې په ټلوېزیون کې مېلمه دی.

اکرام خپرونې ته دتللو اماده ګي نیوله چې موبایل ته یې زنګ راغی، بې له کتلو یې اوکې کړ.

بلې !بلې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار پخير ته مېلمه يې که ټو کې کوې ؟

نه ټوکې نه کوم رښتيا وايم اوس روان يم.

ښه سمه ده زه له همدا اوس نه (S) چينل نيسم.

ريموټ په خپله ولکه کې اخلم.

زينت ډېره خوشحاله برېښېده،ځکه هغې نن خپل معشوق دلومړي ځل لپاره دټي وي په شيشه ليده، دهغې زړه بې واره ټوپونه وهل، هغې کوټه کې ناسته وه، چې دې به پکې هروخت مطالعه کوله،خو په دې کوټه کې ټي وي هم شته.

کله چې اوونيمې بجې شوې،دخپرونې کوربه دخپرونې دابرخه ،موضوع اومېلمه معرفي کړل،دزينت دواړه سترګې دټي وي پر سکرين نښتې وې چې اکرام پکې راښکاره شو،دکوربه لخوا ورته ښه راغلاست وويل شو، ده هم په خپل وارسره له کوربه او ليدونکيوسره سهار پخير وکړ،زياته يې کړه،خپل سلامونه تاسو ته ،دټلوېزيون ليدونکيو اوپه خاصه توګه هغو ليدونکيوته چې همدا اوس زموږ خپرونه ګوري وړاندې کوم.

په زينت نودې خبرې داسې اغېزه وکړه لکه يواځې او يواځې يې چې همدا ياده کړې وي،له ډېرې خوښۍ يې يوځل له ټلوېزيون نه غېږه را چاپېره کړه،اکرام يې په تلوېزيون کې دننه ځوځله ښکل کړ،کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خپرونه خلاصه شوه، بېرون ته راووت،فون يې روښانه کړ،له روښانه کېدو سره دزينت زنګ راغی،سلام کلام نه وروسته يې ورته وويل ماشاء الله ګرانه ماويل که ته،يواځې په موبايل کې دومره زړور او با جرئته يې،ته خو په ټلوېزيون کې هم دبلبل پشان غرېدې.

اکرام ورته وويل بس کړه بس اوس مې د بر صفتونه مه کوه، داراته ووايه چې زماله بدرنګې قوارې خوونه وېرېدې؟

نه غلی شه اکرامه! ولې به بدرنګه يې،انسان هېڅکله هم نشي بدرنګه کېدای اوبيازمادزړه دنياخوډېره دليدو وړ او ښکلې ده،پوی شوې؟اوبل داچې ته خو په بين المللي سطحه سلکټ(انتخاب )يې.

خوای !کله چې تانه دخپرونې کوربه پوښتنه وکړه چې مينه دې کړې؟

تاورته وويل هو.

هغه ويل چاسره دې مينه کړې؟

تانو ولې زه ونه ښودلم؟

اکرام ورته وويل غلې شه لېونۍ هلته څوک داسې نه وايي.

دزينت خودخپل معشوق دليدو نسبي ارمان پوره شو،مګر داکرام زړه خو هماغه شان دزينت دليدو لپاره تږی وو،چې کله به داګل په سترګوووينې،ددې تلوسې ترځنګ په هغې د بې باورۍ فضا هم يوڅه ځواکمنه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ زينت دښوونځي په كتابخانه كې له خپلې يوې ټولګي والې سره دكتابونو په ليدو بوخته وه، چې ټولګي والې يې وويل:

اوهووو !! زينت څومره په زړه پورې كتاب مې پيداكړ،ډېرې ښې كيسې دې پكې،اى ته پوهېږې دكيسو عنوانونه يې ډېرجالب دي.

زينت چې تر دې دمه بلې الماری كې دكتابونوپه كتلوبوخته وه،له هغې يې پوښتنه وكړه،څنګه كتاب دی نوم يې څه دی او ليكوال يې څوک دی؟

هغې ورته وويل ليكوال يې اكرام دی او... دلته زينت دهغې خبره ونيوله، څه اكرام!!!؟؟

ملګرې يې په هيجاني ډول وويل هو ولې؟

همداسې ته راكړه چې زه يې هم ګورم.

هغې كتاب وركړ مخ اوښت يې وكوت دكتاب پرشا داكرام يوعكس او ژوند ليک كښل شوی وو،زينت هېڅ باور نشو كولای ،خپلې ټولګي والې ته يې وويل داكتاب خو نن زه له ځانسره وړم، همداسې يې وكړل،كتاب يې ځانسره كورته يوړ،يوڅه يې لوستی ووچې اكرام ته يې دشپې لخوا زنګ وواهه،هغه چې اوكې كړ.

- ښه ښه نو ستا كتاب هم چاپ شوی دی،اوتا ماته هېڅ هم تر اوسه ندي ويلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالمانه دومره لویه خبره پته کړېوه، اوس باید جریمه ورکړې.

ـ ښه سمه ده جریمه درکوم خو، ، ، ، ، حیران و چې په جریمه کې څه ورکړي، ځکه اکرام لپاره اوس اعتمادکول ډېر سخت وو، حیران وو چې ځنګه شي ته غاړه کېږدي چې له زنیت څخه دده ګټه پکې ډېره وي .

بلاخره یې پرېکړه وکړه اوپه ټیلیفون کې یې ترځلوېښت دقیقو خبرو وروسته ورته وویل چې داخل جلال اباد ته درشم غواړم تاهم وګورم.

نجلۍ ټکنۍ شوه ځنګه به درسره وګورم،تاته خو دپښتنو رسمونه معلوم دي چې څومره سخت دي، زه هېڅکله یواځې له کوره نه یم وتلې،دولس کاله ښوونځی مې په داسې حال کې ویلی چې پلار مې راته ډرېور نیولی وو،سهار به یې له کوره په موټر کې کېنولو ،دمکتب دروازه کې به یې ښکته کړو اوغرمه به یې له مکتب څخه راپورته اوپه کور کې ښکته کړو، همداسې نوروځایونوته هم کله تنها نه یم تللې حتماً مې خور یا ورېندارګانې راسره وي،نو اوس ته وایه چې زه ځنګه له تاسره وګورم؟داسې نه چې زه نه غواړم تاووینم، بلکې کولی نشم،هره شېبه مې ستا لیدوته زړه کېږي،خوښه وکړم چې وخت،حالات دې رانه لرې ساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام ورته وویل ،هغه زمانه بلکې ستا مشکل دی،زه یوائې دومره پوهېږم چې داځل باید له تاسره وګورم، هرڅنګه چې وي. دجلۍ ژبه غوټه شوه.

هغه نو څڅڅ څنګه به شي؟

اکرامه! ته خوماته داسې سخت سخت شرطونه وړاندې کوې چې دپوره کولو توان یې زه په دې کمزورې زړه کې نه وینم.

اکرام ورته وویل زه نه پوهېږم بس خلاصه مې کړه درته پوهه شوې؟

دهغې اواز بند شو ،ده وربانده ې څو نارې وکړې.

زینت !هلو اورې زینت !؟خوله هغې خوا ځواب نه راته پوه شو چې خبرې ترې هېرې شوې.

ښه نو اوس دخدای پامان زه هم کار لرم بیا به خبرې وکړو.

شل پنځه ویشت دقیقې وروسته زینت بیا زنګ وواهه،په دې خاطر چې اکرام له خپلې کړې خبرې وګرځوي.

-ګوره اکرامه !هیله کوم ته داسې مه وایه زه به له ډېرو تشویشونو مړه شم، ته ولې له ماڅخه دهغه مضمون،ازموینه اخلې چې مایې لا پاڼه هم نده بېرته کړې؟

اکرام ورغبرګه کړه، ګرانې ژوند ټول امتحان دی، اویوائې دازموینې لپاره باید درس ونه وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زينت ويل خو ،اکرام يې خبره قطع کړه.

ـ خومو نشته،که نورې خبرې لرې مهرباني وکړه اوکه نه وي نو زما د درتلو انتظار کوه،انشاء الله په راتلونکې اوونۍ کې درځم.

اوففف اکرامه ! ولې مې زړه چوې؟

دفون د قطع کولو په وخت کې اکرام ته ورياد شول چې نن خومې قرض هم ترې وانه خيست.

له ډېره وخت راهيسې دادهغې دنده وه چې دخدای پامانۍ په وخت کې به هره ورځ اکرام ته ۳ ځلي I love you وايي.

ژر يې پرې اواز وکړ:زما قرض خوراکړه.

ـ نشته،نن يې هېڅ نه درکوم ته ماته څه ډول خبرې کوې.

ـ وګوره هغه خبرې نودې پورې څه اړه لري،ووايه ژر کوه که يې ونه وايې نوبياکار خوند نه راکوي او ټوله ورځ درته مزاحمت کوم.

زينت وويل نن مې زړه ډېر خفه دی ، نه شم ويلي.

خو اکرام جدي و ،بس چې وه يې نه وايې زه هم موبايل نه بندوم او خبرې هم نه درسره کوم.

ـ يو خو ته څومره شله يې اکرامه !

ـ ښه هه I love you,I love you,I love you امور شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اوهو نو دومره چالاکه؟

ـ بس هو !

فون یې بندکړ،اکرام له ځانسره وخندل، دهغې دې نازونو به دېر خوندورکاوه.

دا اوونۍ هم تېره شوه، د اکرام دتللو وخت را ورسېد ،خوله هماغې ورځې یې زینت سره خبرې ډېرې نه کېدې،شاید دلیل یې هم همدا وو چې اکرام ورته دلیدوشرط ایښی وو، نو ځکه به یې ډېرکله خبروته زړه نه ښه کاوه،که ده به ورته فون وکړ ډېرې بهانې به یې کولې، کله به یې مېلمانه یادول اوکه بله یې ویل ناروغه یم ،هغه هم دمسج له لیارې.

ماسپښین اکرام دکور په لور وخوځېد ،دهغوی کورته له کابل څخه زیات اوکم ۱۵۰کیلومتره لاره وه،دشپې ناوخته کورته ورسېد ،سباورځ یې له کورنۍ او ځینو دوستانوسره تېره کړه،په دې ورځ یې هېڅ زنګ ورته ونه واهه دشپې یې غوښتل خبرې ورسره وکړ خو مېلمانه راغلل ،تر ناوخته اکرام له هغوی سره ناست و،له زینت سره یې خبرې ونه شوې.

شپه تېره شوه سهار یې ورته فون وکړ شمېره یې بنده وه،څوځله یې ډایل کړه خو هماغه یو ځواب یې ترلاسه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ کومه شمېره چې تاسو غواړئ اړیکه ورسره ټینګه کړئ،له ساحې څخه وتلې او یا ګل دی.

ډېر په قهر شو.

ـ ښه نوته اوس دې جلیٰ ته وګوره چې ماسره داسې دوکې کوې،زما خو له اول نه په دې زړه غل و ، خیر زه هم ورته نه یم معلوم،تراوسه دې زما مینه لېدلې وه ،قهریې ندی لیدلی،زه به هم ورسره پوه شم،یوځل زه له دې سره خبرې وکړم،دا اوس دومره لویه ښځه شوه چې موبایل بندوي.

له ډېرې غوسې ورته کور خوند نه ورکاوه،داورځ یې هم په کور کې تېره شوه، بېرون ته هم ونه ووت، په سبایې ببرته دوظیفې په لور وخوځېد.

کابل ته چې ورسېد ، مسج ورته راغی،چې خلاص یې کړ،لیکلي وو:

اکرام جانه ! زه پوهېږم چې ته به ماته ډېر زیات غوسه یې اوته په حقه یې،ځکه داد دوه زړونو خبره وه، او زړونه په اعتماد سره لاسته راتلای شي،خوقسم کوم چې زما حالات ماته ددې اجازه نه راکوي، زه یوه لحظه هم یوائې له کوره بیرون نه شم وتلای، ګرانه !تاته زما پلار او ورونه معلوم ندي،زما دې ستاپه مینه قسم وي په هماغه شبېه مې وژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پوهېږي !ستالپاره ما دادرې شپې خوب ندی، کړی،ستا پرکتاب ستا لګېدلی انځور مې په خپلو اوښکو څوڅو ځله ووینځه،هغه هم رانه خفه وو د تېرپشان یې راسره خبرې نه کولې، خوته ووایه جانه چې ماڅه کړي وای؟

داکرام غوصه نوره هم زیاته شوه، هېڅ ځواب یې ورنکړ.

له ځانسره یې وویل دا اوس غواړي چې په دې ماوغولوي زه ورته ماشوم ښکارم،خبره نده چې اکرام ددې پشان نجونې ترسیندپورې تېرې بیایي هلته اوبه هم ورته ښیي خو بېرته یې په وچو شونډو راولي،خیر زه به ستا خوښ شم.

بل مسج یې هم ورته را واستوه، هیله کوم اکرام !ماته یوزنګ ووهه ،زه جرئت نه شم کولای، غواړم خبرې درسره وکړم.

بیایې هم ځواب ورنکړ،په غوصه کې وو ویل یې هسې نه داسې څه یې له خولې ووځي چې په اینده ژوند یې بده اغېزه وکړي.

اخر یې چې تنګ کړ،ده هم په پیغام کې ورته ولیکل.

_زه مصروف یم.

خوهغه نه قراره کېده، همداسې مسجونه یې استول،هیله کوم هیله کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوف اکرامه ! ته ولې نه پوهېږې زما موبایل کې کارت نشته،کنه ستاپشان کنجوسه نه یم،اوس ماشومان هم نشته چې دوکان ته یې ولېږم او کارت راته راوړي،زنګ راته ووهه،دقیقې دې شمار کړه،چې هرڅو شوې،پیسې یې واخله او یابه دې کله په کارت په دې دمخ وولم.

سبایي په دفتر کې جلسه وه،اکرام ګډون والوته خبرې کولې،ټولوته یې وویل هیله کوم،موبایلونه مو دجلسې تر پایه خاموش کړئ،چې دخبروپه منځ کې ټولوته مزاحمت کوي،په همدې وخت کې داکرام جېب کې دموبایل اواز پورته شو،ډېره بده اغېزه یې ورباندې وکړه،هېڅ یې ونه کاته چې دچاشمېره،همداسې یې په ډېره غوسه سره تڼي زور ونیوله ترڅو مبایل بند شو.

بخښنه یې وغوښته اوپه خبرویې پیل وکړ، کله چې جلسه خلاصه شوه، فون یې روښانه کړ، ډېر زنګونه ورته راغلي وو چې تر نیمایي زیات یې دزینت ول،مسجونه یې هم ډېر استولي وو.

اکرام ورته زنګ وواهه،له اوکې کولو سره زینت ورته وویل:

قاضي صیب خدای مې دې ستاله فیصلو وساتي،داته څه کوې، زما خودې نور زړه وچوه، همداسې څوک کوي؟

اکرام ورغبرګه کړه ،نه !داسې څوک کوي لکه تاچې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ای اکرامه ! هیله کوم،داسې مه وایه ته اوس هم راته غوصه یې؟ ګوره تاته خو ما اول کې ویلي چې زه ستاله غوسې ډېره وېرېږم،خیر دی، دغوسې مود کې خبرې مه راسره کوه،کنه ته به راته خبرې کوې اوزه به له وېرې مړه یم.

نه زینت تا زه ډېر زیات خفه کړی یم،زه به هېڅکله تاونه بخښم،ته پوهېږې،زما ډېرې هیلې دې تر خاورولاندې کړې او په تا زه تر اوسه هم پوره باور نه شم کولای.

ای لېونیه ! بس کړه کنه !ته ولې نه پوهېږې؟

ایا ستا دا اخر ځل راتګ شو،کورته اونوبیاهېڅکله هم نه راځې؟

دزینت په دې خبره کې ورته ډېرې هیلې وځلېدې، ځان یې غلی کړ، موبایل یې ښه غوږ ته نږدې کړ،ته صبر چې نور څه وایي.

ته ساده کېږه مه، خدای پاک مهربان دی، هرڅه به سم شي، زه خوستاپه مینه مړه یم،ددنیا هېڅ قدرت هم زما مخه نشي نیولای، هغه دې نه د ي اورېدلي چې عاشق ړوند وي؟

خو ګوره ته ډېر تلوار مه کوه، په دې کې به مو خیر وي، نن د زینت خبرې دتېروشویوهرې ورځې نه مخالفې وې،سم لکه نن یې چې همدا درس ویلی وي، داسې خوږې خبرې یې ورته کولې چې دی یې له ځانسره واخست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوناڅاپه یې فکر بدل شو، هلکه اکرامه داجلۍ خوبه هسې ستا دخوشحاله کولو او غولولو لپاره داسې خبرې نه کوي؟

زه خو وایم چې دې به له ځانسره فکر کړی وي چې راشه چل ورباندې وکړه خدای خبر دی چې دی به بیا کله کورته راځي تمه ورکړه، چې راشي بیابه کوم چل ورسره وکړې.

ـ نه نه زه یې نه منم ته اوس غواړې هسې ما خوشحاله کړې، هغه دې ندي اورېدلي؟

لمونځ چې قضاشي بیا اداشي

نه اداکېږي قضاشوي دیدنونه

ـ وګوره اکرامه ته ولې داسې وایې، هېڅکله په ژوند کې ناهیلی کېږه مه چې ګناه لري، زما په دې ژوند کې نور څوک دي، ته خو زما لومړۍ او وروستۍ مینه یې نوزه څنګه له تاسره داسې کولای شم، او ګوره بیا داسې ونه وایې ښه!

چې درنه خفه کېږم، زه دهغو نجونو له جملې څخه نه یم چې ټولې له چل او چل بازۍ نه ډکې وي، هلکانو ته دوکې ورکوي ایا تاته زه په دومره وخت کې معلومه نشوم؟

کله کله خو راته وایې چې زه انسان په پنځو دقیقو کې پېژنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه درې اوونۍ همداسې تېرې شوې،اکرام ته بیا څه کار د دفتر لخوا پیدا شو او باید جلا ل اباد ته تللی وای دوه ورځو کې باید خپل کار خلاص کړي او بېرته مرکز ته راشي.

په دفتر کې یې څه بهانې وکړې او یوه ورځ یې نور هم ورباندې زیاته ومنله،همداچې دفتر نه ووت،له خپلې کورنۍ څخه یې هم مخکې زینت ته زنګ وواهه.

ـ جلۍ ! زه جلال اباد ته در روان یم،ګوره که داځلي دې راته بهانه وکړه،په هماغه شېبه دې نمبر ډېلېټ کوم،جلۍ هکه پکه شوه، چې داڅه اوري.

ښه سمه ده جان ! ځان به درنه ځار کړم خوتادې الله راولي،داکرام په زړه دخوښۍ ساړه ننوتل،هېڅ پوی نه شوچې جلا ل اباد ته څنګه ورسېده.

هلته له رسېدو سره یې بیا زنګ ورته وواهه،خوورته یې وویل زه دلته کار لرم او ل باید کارونه خلاص کړم،زه اوته به دریمه ورځ ګورو ،ته دې پلان جوړ کړه.

زینت ورته وویل ښه نو کوم ځای کې څه وخت او څنګه ګورو ؟

ده ورته وویل وخت او ځای ته وټاکه،هرځای چې تاته اسانه ښکاري،په شوخۍ یې ورته وویل زه خوستا سو کورته هم درتللی شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شه اکرامه !زه دې لکه چې ژوندی، نه یمه خوښه چې دلته راځې.

بیا یې ورسره شوخي وکړه:

- دزړه سره اوربدلي مې دي چې د خپلې معشوقې د وروڼو او پلار له لاسه وهل خوړل د ېر خوند کوي،نو پرېږده چې دا خوند خو د اول ځل لپاره وڅکم.

دواړو وخندل،زینت وویل وګوره شوخک ته.

ښه وو ایه چې چېرې زما دابدرنګه قواره ګوري؟

خومادرته وویل چې هرځای تاته اسانه وي.

نه ته یې ووایه.

ښه سمه ده بیا به زما دملګري په دفتر کې سره وګورو.

څه؟ ستادملګري په دفترکې !هغه به څه وایي؟

ولې څه به وایي ته بېغمه شه، هېڅ به نه وایي زه ورباندې پوره باور لرم.

که هغه درنه زما په اړه پوښتنه وکړي چې داڅوک ده نوته به ورته څه وایي؟

ته غم مکوه هغه له مانه دومره پوښتنې نه کوي، اوکه ویې هم کړي نو بیا ماته دخبرو هنر یاد دی، ورته وایم چې دا مې همکاره ده اولته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپلودوستانو کره راغلې ده ماورڅخه هیله وکړه چې یوځل راسره وګورې.

سمه ده څنګه چې ته وایي خو ماته دعاکوه چې په بهانه جوړولوکې دلومړي ځل لپاره بریالی شم، اوله کوره هم دداسې یو چا دلیدولپاره ورشم، چې یواځې دزړه رشته مې ورسره شته،او دلسګونوکلیو مټره لرې واټن څخه یواځې ما لیدلی دی.

په دې ورځ اکرام ځینې کارونه وکړل،خپل کورته ولاړ لس بجې وې چې له دفتر نه یې ورته رنګ ووهه.

هلکه اکرامه ته دیوه رسمي سفر لپاره ددفترلخوا سلکټ(انتخاب) شوی یې اوباید ترکیې ته ولاړ شې سهار چې څومره وخته کېږي ځان راورسوه،ترڅودلته دپاسپورټ او ویزې کارونه خلاص کړې چې یواځې درې ورځې لرې.

له ځانسره په غوصه شو ،خدای دې ببخ ددفتر هم وباسي او دترکیې هم.

په تندر یې وهم خو کوم بل څوک به یې انتخاب کړی وای کنه، ایا په دې دفتر کې یواځې همدا زه یم چې ښکته مې هم ځغلوي او بره هم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزینت دلید ولپاره یې غوښتل دفتر ته زنګ ووهي او ورته ووایي چې زه نه ځمه کوم بل څوک وټاکئ بیا یې ویل خو په بل چابه دومره اعتماد نلري کنه.

حیران پاتې وو،چې داڅه وشول، جلال اباد ته ناڅاپي راتګ،دلته کارونه په بېړه کول،له زینت سره دملاقات ژمنه،ترکیې ته تلل،اکرامه !داخوب دی که حقیقت؟

په کور کې یې هېڅ ونه ویل سهار چې لمانځه ته پورته شو ،کورنۍ ته یې وویل چې دی باید بېرته ولاړ شي،دشپې یې ورته فون کړی وو ،اوامکان لري چې دوه ورځې ورسته ترکیې ته سفر ولري.

هغوی هم ټول حیران شول،داته څه وایې !؟

خوقناعت یې ورکړ،سړک ته ور ښکته شو ، ددوی منطقه داسې ځای دی چې دکابل جلال اباد عمومي سړک یې په منځ کې تېرشوی دی اوبل دا چې ددوی کور له سړک څخه نژدې درې سوه متره فاصله کې و.

اکرام چې سړک ته راووت نو دریم موټر ورته ودرېده، دکرایې خبره یې ورسره وکړه او وروخوت.

هغه عادت درلود ،چې هر سهار له لمانځه ورسته به ویده کېده، که څه هم ښه عادت یې نه وو، خو بیا هم اوس همداسې اموخته شوی وو، نو دموټر د څلور پنځه کیلومتره مزل وروسته خوب وړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا چې خوب وړی وو، نو په خوب کې له زينت سره يوې رنګينې او سرسبزه نړۍ ته د سيل او چکر په نيت ورننوت،کوم ډول انځور يې چې د هغې لپاره په ذهن کې جوړ کړی وو نو هماغه انجلۍ يې له لاسه نيولې او په شريکه يې يوه ښکلې سندره د نريو روانو اوبو په منځ کې زمزمه کوله،شاو خوا شنې لوړې او پاڼورې ونې ولاړې وې،له هرې خوا معطره اوخوشګواره هوا راتلله،ده به په زنيت او زينت به په ده اوبه شيندلې،هغه هم حيران وو چې داځای دلته له کومه شو،له ځانسره يې ويل چې داخو افغانستان ندی، نوبيا دابه کوم هېواد وي او دلته زينت له کومه شوه؟

ځان يې ډېرې نېکبخته احساسوه،له هغې سره يې په دې نوې نړۍ کې دمينې او خلوت کيسې کولې،کله چې به يې ډېره شوخي ورسره وکړه زينت به لاس ترې خوشې کړ،منډه به يې کړه بېرته به يې په ناز او کرشمو د اکرام په طرف نازک قدمونه واخستل رابه غلله مخې ته به يې کېناستله او ورته به يې ويل؟

ـ ای ته ولې ما هره ورځ دلته نه راولې؟

زما خو په کور کې زړه ډېر تنګ شوی دی،هله ژرکوه ژمنه راسره وکړه چې نوره به مې هر وخت راولې،دلاس پړک هم وکړه.

اکرام دمينې په سمندر کې دومره عُمق ته ښکته شوی وو چې ورڅخه راوتل يې ډېر اسان نه ول،دزينت ښکلي او حسين رُخسار داسې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو جلووکې له ځانسره جذب کړی وو چې خبرې،یې ورنه هېرې کړې وې،زينت ورته خبرې کولې خوده يې يوائې مخ او سترګوته کتل.

اخر يې سر ورته په زنګون کېښود.

ښه نو اوس څومره راته ګورې بس دی کنه خبرې راسره وکړه.

خواکرام بیاهم دهغې خبرې نه اورېدې،دومره مصروف ولکه څوک چې دېر يو جالب او دليدو وړ فلم دټلوېزيون په پرده ګورې او دلوبغاړو حرکات ځاري همداسې يې په مخ کې ورک وو ،زينت ته الله پاک يوبل ډول جوړښت ورکړی و.

ډېروخت وروسته يې لاس اوچت کړ او داکرام په مخ يې کېښود ،په مينه ناک انداز يې ورته وويل:

اکرامه !

ته ولې لماسره خبرې نه کوې؟

هغه بیاهم هماغه حالت کې و ،چې زينت ورته جړک ورکړ.

اکراااامه !

اکرام لکه وبرېدلی چې وي ژر يې په مخ لاس راکاږه، او دهغې په وېښتانو يې لاس کش کړ،ګرانې خبرې درسره کوم،ته خو لږ صبروکړه چې زه خودرته په کتلو موړ شم،بیابه ويل هم وکړم خو ته ولې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ناڅاپه په ماباندې غږ کوې ودې وبرولم،له دې سره زينت دمستې اسپې پشان شنها وکړه او له خندا يې ټول ځان رپېده اکرام يې په سينه کې په سوک وواهه،ورته ويې ويل:

نو زه څه خبره وم چې ته دومره ډارن يې ،له دې سره دواړو بيا ښه زيآت وخندل اکرام بيا دهغې سترګوته کتل ورته ويې ويل: زينت ! ته په واقعيت سره ډېره ښکلې يې.

زينت له خوښې موسکا سره پوزه مونجه کړه په غرور يې وويل:

کاش چې زه همدومره ښکلې خو وای.

اکرام ورته وويل:

ـ لېونۍ ته څه خبره يې زه خو وايم چې هسې خلک وايي چې په نړۍ کې تر يوسف (ع) نورڅوک ډېر ښايسته نه شته.

خوزه بيا وايم چې په نړۍ کې به ترتا بل څوک ښکلی نه وي،ته دنړۍ دټولو ښکليو سرداره يې.

ـ غلی شه اکرامه،اوس ريشخندمه راباندې کوه.

دهغې له دې خبرې سره يې لاسونه ترې چاپېرکړل،دومره ټينګه يې ونيوله چې رپ يې هم نشو ورنه خوړلی،په سترګو يې ورته لاس کېښود او په شونډو يې خوله ورښکته کړه،زينت ،وربړبده ،دهغه تر ورغوي لاندې يې سترګې سره وزبېښلې ، خو داکرام ممانعت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونکړ، همدا چې شونډې يې دهغې له نازکو شونډو سره ولګېدې يو وېروونکي درز يې دميني په نړۍ قيامت برپاکړ.

رنګينه دنيا ،ښکلې نظارې،په ښکليواو نازکو لباسونوکې تنکۍ زينت داهرڅه يې ورڅخه واخستل.

نور نو اکرام پوی شوی نه دی، چې څه وشول او په کوم ځای کې دی.

له دې وروسته نو يوې بلې نړۍ ته ور داخل شو، چې هلته په ربښتيا يو قيامت وو ،دمخلوقاتو هېڅ اندازه نه کېده، جنت اودوزخ دواړه ورته ښکاره کېدل،ربښتيا هم ټول خلک له ډېره هيبته تر ستوني په خولوکې ډوب ول،ديوه هم په ځان کې لباسونه نه ول،خو يوه هم دبل شرمګاه ته نه کتل،په دې نړۍ کې،داسې ځورونکي حالت سره اکرام مخ شو ،چې ځوځوځله يې مړ اوبېرته ژوندی کړ.

خوکله هم اکرام سره دحساب کتاب کولونوبت ورنغی،دی لکه دنورو لايتناهي مخلوقاتوپه څېر له هيبته په زړه چاودون کې ولاړ وو ،چې اوس به يې نوبت راځي ، اوس به راځي خو هغه وخت هېڅ رانغی،په دومره مخلوقاتوکې اکرام ډېر ناهيلی وواوبايد همداسې وای،ځکه چې هلته ځان په ځان سودا ده،ورور دورور له پېژنګلوی څخه انکار کوي او پلار دځوی،ځوځوځله يې د تېښتې هڅه وکړه،منډې به يې واخستې ،خوکه هرڅومره مزل به يې وکړ،بيابه هم دحشرله ميدان څخه نه شو وتلی،منډو ،تږو او هلو ځلويې هېڅ ځای نه نيوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت داهرڅه په اتومات ډول بدل شول،فکر کېږي چې اکرام به سترګې غړولي وي،خولاهم مطمئین نه وو ،بیاورته ټوله ننداره خوب ښکاره شوه،څوځله یې هڅه وکړه چې سترګې پرانیزي خو ناکام به شو ،خوبیایې هم خپل کوښښ جاري ساته،داځل یې سترګې تر څو ثانیوپورې غړولې ونیولې،خوبیا یوبل حالت ته ورغی.

یو وخت اکرام له خپلو څوملګروسره دجمعې په ورځ دچکر په نیت له دفتر څخه ووت،ملګري یې له ننګرهار څخه راغلي ژورنالېستان ول،دوی غوښتل ښه ډېرسیلونه وکړي نو ځکه پلي ګرځېدل،یووخت په ډېره ګڼه ګوڼه کې اکرام دیوه کوڅه ډب سپي ښکار شو ،دملګرو له جملې یې یوه منډه کړه ترڅو هغه بدبخته سپي ته هم زیان ور واړوي،خو بریالی نه شو او سپي پښې سپکې کړې.

اکرام اوس هم هماغه حالت سره مخ شوی وو ،خوکله چې سپی ورپسې منډه کړه،اکرام یواوچت خېز وواهه،له بېهوښۍ راووت،ګوري چې دی په چپرکټ کې پروت اوله ده کشر ورور یې ساحل ورته ترڅنګ ولاړ دی،په یوه نااشنا ځای کې له نویوحالاتوسره تم دی.

داکرام له سترګوغړولوسره ساحل له ډېرې خوشحالۍ په داسې حال کې په مور اواز وکړ چې ژړا او خندا یې له ستوني مکس راووتل.

مورجانې !مورجانې ! اکرام په هوښ راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام په فکر کې شو ، څه !؟

په هوښ راغی؟

څوک په هوښ راغی؟

زه خو له زينت سره وم.

ای ! زينت څه شوه؟

بېرته په فکر کې شو ، داځنګه کېدای شي د هغې ښکلې اورنګينې نړۍ ځخه وتل،دقيامت ورځ ليدل،په هوښ راتلل،عجيبه ده داهرڅه لاڅه معنی لري؟

اکرام په همدې فکرونو کې وو سريې يوې او بلې خواته ګرځاوه چې مور يې ځان ورباندې ور وغورځاوه،شکر هزاربار شکر،خدايه تانه ډېره مننه،چې ځوی دې راته بېرته را ژوندی کړ،زماخوهېڅ تمه ورته نه وه،چې بيابه ورته ووايم ځويه !ای پاکه ربه ستاډېرشکر اداکوم.

مور يې ډېربدحال کاوه،خو پلار يې چې خپله هم سلګيو نيولی وو او هډکيو وار نه ورکاوه، هغه يې ونيوله اوداکرام ترځنګ يې کېنوله،ورته يې وويل:

دا نور ناروغان په عذاب کېږي،ډېره په اوچت اواز غږېدا ورته ښه نده،بس دخدای پاک شکريه اداکړه چې زموږ ځوی يې بېرته زموږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شلېدلې ځولۍ کې راته واچوه،په دې وخت کې يې پلار ډېرسخت وژړل له اطاقه بهر ووت،ترڅو يې يوځل بيا مېرمنه چيغې پيل نکړي.

کله چې داکرام مور يوڅه غلې شوه اوساحل له دې ځايه بېرون ووېسته،پلار يې ورغاړې وت،او ښه ډېر يې ورته وژل،دومره يې وژړل چې بې هوښه شو،خواکرام داهرڅه يو خيال ليده،هرڅه ورته بېخي بدل بدل ښکارېدل،نه ژړا ورتلله،نه خندا،خودکورنۍ غړي اودوستان يې ليدل چې چاژړل اوچاخندل.

اکرام خبرې نه شوی کولای،کله په هوښ اوکله به بې هوښه شو،څوساعته وروسته يې مورته اوازوکړ.

ـ مورې!ومورې!

ژرساحل ورته راغی.

ـ څه وايې؟

ـ په ماڅه شوي،داکوم ځای دی؟

ساحل وويل، هسې لږ ژوبل شوی يې،انشاء الله اوس ښه يې.

اخوادېخوايې وکتل نورناروغان هم په چپرکټونو پراته وو،پوی شو چې دننګرهارعامې روغتيا روغتون دی،ځای يې ځکه وپېژانده،چې څوځله دمخه هم دلته ياله نورونا روغانوسره اوياهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله چې ناروغ شوی ونو راغلی و،کله چې یې د اپنډېکس اپرېشن کړی و هم چې په هوښ راغلی همدې واټ کې و.

دهغه دتره یو کوچنی ځوی، چې موټر وهلی وو دلته ورسره څو ورځې پایواز و، اکرام ځکه له دې ماحول سره ډېر بلد او خلک ورته اشنا اشنا په نظر ورغلل.

ساحل ته یې وویل:

-زه کاملاً په خبره پوهېږم او ښه یم ته ووایه چې څه شوي؟

هغه ورته وویل،ډېرې خبرې درته ښې نه دي،ډاکټران غوسه کېږي وایي چې خبرې مه ورسره کوئ چې ستونزه ورته پیداکېږي،داچې ته تازه له انستېزۍ (بې هوښۍ)نه راوتی یې نو په رښتیاهم باید ډېرې خبرې ونکړې.

اکرام بیاهم نه منله،یواځې خپله خبره یې تکراروله چې،ووایه څه شوي،کنه چیغې به ووهم.

اخریې ساحل مجبورکړ چې هرڅه ورته ووایي.

ورته یې وویل:

ددوشنبې په ورځ کله چې ته کابل ته تللې،ستاسوموټر په سروبي ولسوالۍ کې ټکر وکړ،ته او دوه نور نفریې د سروبي ولسوالۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتون کې له لومړنیو مرستو وروسته دلته راوړي وئ،چې بیا مور ته له روغتون څخه خبر راکړ شو.

ـ اوه زما خدایه داڅه اورم.

ـ ښه نو ته چې وایې مور ددوشنبې په ورځ ټکر وکړ،خیر بیا نن دڅه شي ورځ ده؟

ـ نن دجمعې ورځ ده.

ـ څه دجمعې؟

ـ هو.

ـ یعنې زما نن پنځمه ورځ ده دلته؟

ـ هو.

ـ ښه زما مبایل چېرې دی؟

ـ ساحل وویل،ستادجېب بټوه او کارتونه مور ته دلته راکړل شول،خو مبایل،ستابیک اونور څه نه ول،بس غم یې مه کوه،مبایل دې اور واخلې،شکر چې ته ښه شوې.

ـ ښه نو اوس ته باید ارام وکړې،یوه خبره به هم نه کوې،ځکه بیا ډاکټران مور ته غوسه کوي، ستاسرغټه ضربه خوړلې،که ته ډېرې خبرې وکړې،کېدای شي چې زیان درته ورسوي،نوهڅه وکړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوائحې ارام وکړې،که څه دې غوښتل ماته په اشارې سره وایه،زه پوهېږم هرڅه درته اماده کوم،پوی شوې؟

اکرام له ځانسره وویل:

ډاکټران خو وایي ارام وکړه،خوزما ټول ارام او سکون خودزینت په خبروکې ده ،هغه به څنګه وي،څه به وربانديې داپنځه ورځې تېرشوي وي،داڅه شوي زه خوحیران یم،ایا داهرڅه به رښتیاوي؟

داخبره یې له ځانسره پټه وکړه،ترڅویې ساحل وانه وري. ډاکټر راغی،په سیرم کې یې ورته یو امپول ګډاو چالان یې کړ،څودقیقې وروسته یې خوب وروست،همداسې ویده شو،خوب کې یې زینت ډېره خفه او مړاوې ولیده، له اکرام څخه یې ډېرې ګیلې کولې،حتی تر دې چې نه یې غوښتل خبرې ورسره وکړي،هغې ورته ویل:

تازه هېره کړې یم،ستاټولې وعدې په دروغووې،تا لماسره هېڅ وخت مینه نده کړې،هسې به دې زه غولولم.

اکرام چې خومره سوګندونه ورته وکړل،هېڅ یې راضي نه شوه کړای،په ژړا ژړا ورنه روانه شوه، که یې هرڅه ورپسې چیغې وکړې،مګر ځای یې ونه نیوه،په خوب کې یې ورپسې منډه کړه،چې په دې وخت کې راویښ شو،سریې ډېر شدید درد نیولی وو،ماغزه یې همداسې پړکېدل،اوف اوف یې پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاریې ډاکټر راوغوښت،هغه سیرم بندکړ،په کنول کې یې درد یوه پیچکاري تېره کړه، څوشېبې وروسته یې درد ارام شو.

درد یې چې ارام شو،ساحل ته یې وویل،هلکه ماته یو مبایل او سیمکارت واخله،خوهغه یې خبره رد کړه ویې ویل،نه هېڅکله هم نه ته دخبرو کولو اجازه نلري،ایا څوشېبې غلی نه شې پاتې کېدای؟ته وګوره دانور هم ناروغان دي کنه یواځې ته داسې یې.

یاره دوی خویوهم داسې نه کوي، څه چې ډاکټران ورته وایي دوی هماغه شان کوي.

اکرام په غوسه شو ،غلی شه!ماچې څه وویل هماغسې وکړه اوبس،زه غواړم خپلو همکارانو سره خبرې وکړم.

ساحل وویل: ته ولې نه پوهېږې؟

همکاران دې هم تېره ورځ ټول راغلي ول،هغوی خبر شوي دي،کله چې ستا فون دوه ورځې بندو، هغوی زما موبایل ته زنګ وواهه،ماورته ټول جریان ووایه،ډېر خفه ول،بیا راغلل ته یې ولیدې،بېرته ولاړل.

خواکرام بیاهم دمبایل غوښتنه کوله،داځل نو هغه هم جدي شو.

ته ولې په خبره نه پوهېږې وایم تاته خبرې کول ښه نه دي،سر دې ډېر شدید ټپي دی آن مغزوته دې صدمه رسېدلې ،غلی شه اوکنه نه غلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي نو ډاکټرته وایم چې دبېهوښۍ پیچکاري درته وکړي چې یوځل ارام شې.

په دې ورځ يې هم مبایل ورته وانه خست.

سباچې کله دډاکټرانو د وېزېټ (لیدنو ) وخت خلاص شو،بیایې ساحل ته وویل،هلکه ماته موبایل ضرور دی ګوره.

پوی شو چې ساحل بیاهم خپله پروني پرېکړه له ځانسره ساتلې ده،نويې په خپلوخبروکې سست والی راوست،هیله کوم،ساحله،ته ولې نه پوهېږې،خودومره باید پوی شې چې،موبایل ماته ډېر سکون او ارام راکولی شي.

اخر يې اړ کړ چې ورته وايې خلي،له مور اوپلاره يې پټ ورته مبایل راوړ،ور يې کړ.

کله چې يې ورته مبایل واخست،اوس ورته دخبروکولو چانس نه پیداکېږي،هره شېبه به دوه او درې نفره وسره ولاړ ول،هغه وخت ته په تمه وو چې مریضان یوائې پاتې شي اوپایوازان ټول وباسي.

همداچې ټول ووتل دزینت شمېره يې ډایله کړه،ډېر اوږود زنګ ورغی ،خو ځواب يې ورنکړ، بیا يې ډایل کړ، هغې بې ځواب ورنکړ،پوه شو چې زینت نا پېژانده شمېره نه اوکې کوي ،ژر يې ورته مسج ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ځواب راکړه، زينت ! زه يم اکرام.

همدا چې زينت د اکرام استول شوی مسج ولوست، فون يې ورته وکړ.

اکرام ژر اوکې کړ.

ـبلې ګرانې !

ـبلې جان خلک همدا سې کوې؟

زينت غوښتل د ډېرخه ووايي خو اکرام يې خبرې قطع کړې، ورته ويې ويل:

اوس د دې خبرو وخت ندی ايا ته زما له اواز نه هم نه پوهېږې چې په ما څه شوي؟

په خبره يې پوهه کړه، چې د ډېرې خبرې نه شم کولای، په روغتون کې يم.

د زينت له خولې بې اختياره چيغه ووته.

نااا !هغې اوس د اهرڅه هېرکړي و چې په کور کې به څوک ورباندې شک وکړي.

ـ ولې په تا څه شوي، ژر ووايه چې زړه مې چوي، او په کوم روغتون کې يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر اکرام وربانديې اواز وکړ زينت ځانته متوجه اوسه چې څوک دربانديې پوی نشي.

هغې ويل ژر راته ووايه چې کوم روغتون کې يې کابل کې که جلال اباد کې؟

اکرام ورته وويل دننګرهار د عامې روغتيا په روغتون کې يم.

زينت وويل: زه همدا اوس درځم.

اکرام ورته وويل،نه نه ته دلته مه راځه، زما ټوله کورنۍ دلته راسره ده،ستا راتګ دلته ښه ندی،ستا کورنۍ به هم دربانديې شکي شي،خو زينت اړيکه قطع کړه،اکرام حيران شو چې څه وکړي ،خوزينت ورته پيغام وليږه پکې ليکلي يې و: زه کور کې څه بهانه کوم، اوتاته ځان دررسوم،هغه ورته وليکل:

مه راځه،دا ښه نده چې ته دې دلته راشې.

خوهغې نه منله همداسې را روانه شوې وه،اکرام له ځانسره په سوچونو کې سرشو ويل يې:

زينت خوپه هره بهانه چې وه له کور راووته اوس به زما څنګ ته راشي،نو زه به خپلې کورنۍ ته څه وايم چې دانجلۍ څوک ده اوزه ورسره څه اړيکه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم یوه بهانه جوړه کړه، ساحل ته یې وویل چې د زینت په نوم یوه انجلۍ راځي، په ننګرهار کې زموږ د ولایتي دفتر کارکوونکې ده چې راغله رهنمایي ورته وکړه.

نیم ساعت څلوېښت دقیقې به لا نه وې تېرې شوې ،اکرام د وربانديې اخسته سرنوشت او پېښې په هکله په سوچونو کې دومره ژور ننوتی و چې هېڅ یې هم نه لیدل،ډېر وروسته یې د چپرکټ ښي طرف ته وکتل،ګوري چې په تور حجاب کې اوږده نرۍ نجلۍ ولاړه وه،له دواړو سترګو یې داوښکو باران او په اکرام کې یې ګنډلې وې.

په دې وخت کې یې دشاوخوا نور ناروغان دهغه چپرکټ ته متوجه ولیدل،زینت دومره په مهارت ټول ځان تر سترګو په حجاب کې پېچلی و چې پېژندل یې ډېر سخت ول،خو اکرام ډېره ژر وپېژندله،همدا چې ورویې کتل، زینت سترګې وزبېښلې او په سینه یې را پرېوته،ښه ډېریې ورته وژړل،ډېرې سلګۍ یې ووهلې، خو اواز یې په سینه او ستوني کې پټ ساته،زینت اوس په اطاق کې دادومره خلک نه لیدل.

اکرام هم ډېر وژړل ساحل ورته وویل خورې !

ډېره مه ژاړه، شکر دی اکرام اوس ښېخي ښه دی، ډېرې خبرې هم وسره ښې نه دي، خو زینت هېڅ نه غلې کېده ددې خونې ټول ناروغان اوپایوازان ورته حیران و ،چې داڅه کیسه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچیرکټ خواته یې لاندې په رنګه مرمرو کېناستله اوښکې یې تویولې اکرام یې لاس په لاس کې ونیو اواز یې پرې وکړ.

زینت !ای زینت !

داخلک به څه وایي هیله کوم غلې شه، خو هغې خپله ژړا اوسلګی نه شوې کنټرول کولای،ښه ډېر یې وژړل،اوښکې یې وچې کړې

نور یې ورنه په بند بند ستوني پوښتني پیل کړې.

خوساحل اکرام ته د ځواب ورکولو وخت ورنکړ،هرڅه یې ورته وویل.

زینت ډېر وخت ورسره ناسته وه.

اکرام ساحل ته وویل،ترڅو چې زینت زما خواته وي هېڅ څوک مه را پرېږده،ورته وایه ډاکټران څوک نه پرېږدي.

ترډېرځنډ وروسته یې زینت ته وویل:

ته اوس ولاړه شه، چې کورنۍ به دې درته تشویش کوي.

زینت هم ورسره ومنله،خو هغه پخواني خماري سترګې او هفت رنګه دایره وي مخ یې خپل خواص له لاسه ورکړي و،سترګې یې داسې سرې شوې وي تابه ویل پوره لس شپې یې خوب ندی کړی،په سلګیو کې یې خدای پاماني وکړه اوخپل کورته ولاړه.

اکرام څو ورځې وروسته له روغتون څه خارج شو،خپل کورته ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میاشتې په تېرېدو سره بېرته خپلې دندې ته ولاړ.

یوه ورځ اکرام په بابر بڼ کې له څوتنو ملګرو سره ناست وو، چې زینت ورته فون وکړ، خوداچې اکرام د ملګرو په مخ کې اوداوخت د خبرو لپاره مناسب ونه ګاڼه نو یې ځواب ورنکړ، فون یې قطع کړ.

هغې څو زنګونه ووهل، اکرام بیاهم ځواب ورنکړ. زینت مسج ورته ولیکه. هیله کوم اکرامه !ځواب راکړه، ډېرضرور کار مې درسره دی.

خو اکرام لازمه نه ګڼله، چې په دې وخت کې دې ورسره خبرې وکړې، هغه ویل چې دشپې لخوابه په اطاق کې په ښېغمه زړه ورسره ښې ډېرې خبرې وکړي ویل یې دالېونۍ هروخت همداسې کوي کله چې ځواب ورنکړم، نوبیا سل رنګه بهانې او چلونه کوي، ترڅو ځواب ورکړم.

مازیګر چې کله خپل اطاق ته راغی زنګ یې ورته وواهه، ډېره خفه وه، ویل یې له تانه مې هېڅ داسې تمه نه لرله.

اکرام ورته وویل، خیر دی ګرانې ملګري راسره وو، خو زینت ډېره خفه وه، اخر اکرام ورته وویل بس چې ته ډېره خفه یې دادی زه درنه

بخښنه غواړم.

ـ ښه نو اوس وو ایه چې څه خبره وه، خیریت خو دی کنه؟

ـ خاورې په سر خیریت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام پوی شو چې خبره خرابه ده.

- هیله کوم ووایه زما دې تشویش کړ،څه شوي ته خوبه روغه یې کنه؟په کور کې هم ټول ښه دي؟

-هو یو هم بلا ندی وهلی.

-ښه چې ټول ښه دي نو غم مه کوه هرڅه به سم شي.

زینت په قهر سره وویل،هېڅ هم نه سمېږي اکرامه !ته ولې نه پوهېږي بېګاته بیاهغوی راغي.

او داځل زه مطمینه یم چې پلار مې دستمال ورکوي، کوم شپږ واري راغلل او هرځل یواځې ستا لپاره ما انکار کړی دی.

- ته پوهېږي اکرامه ! چې زه یواځې خپلې پښتو نیولې یم،ستونی یې ژړا ونیوه ،خدای دې داپښتوهم په مرګ سپېره کړي،چې هرځل دیوچادمانع کېدو باعث کېږي.

اکرام یې خبره ونیوله نوتاخو ویل چې هغوی به بیارانشي.

اوففف اکرام ! زما خو نور هېڅ حوصله نشته خو ګوره مخکې مې هم درته ویلي او اوس یې هم درته وایم،ښه دې غوړونه خلاص کړه، که چېرې زما کوژده له عمر سره وشي، ځان وژنم.

اکرام ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره ګرانې زه پوهېږم دا ډېره سخته ده، چې ته د مور او پلار په مقابل کې ودرېږې او زه هم دومره جرئت نشم کولای چې له خپلې کورنۍ سره داسې خبرې یادې کړم، په دې خاطر چې له زینت نه د اوس وخت لپاره ځان خلاص کړې دروغ یې ورته وویل: ځکه له ما مشر ورور مې لا کوژده نه ده کړې نو زه به څنګه هغوی ته دخپل ځان په اړه داخبرې وکړم.

اوتاته خو معلومه ده چې پښتانه تل مشر اولاد ته واده کوي هغه هلک وي اوکه نجلۍ، ښه نو اوس ته ووایه چې زه څه وکړم، ایا زه له خپلې کورنۍ نه پټ درشم او بېګاته ستادکورنۍ په وړاندې هغو خلکوته ووایم چې زینت زمامینه او زما ښځه ده تاسو نشی کولای چې دلته په دې نیت راشئ ترڅو هغه خپله اینګور جوړه کړئ؟

- نه اکرامه داسې ونکړې، زه نه غواړم چې زما کورنۍ دې بدنامه شي ځکه چې موږ په دې ځای کې ډېر لوړ نوم لرواو بل داچې زه داهم نه غواړم چې سبا دې خلک د تښتېدلې نوم رابانده کېږدي او ګوره ګرانه ددې هرڅه ترڅنګ زه داهم نشم زغملی چې ستا شخصیت، عزت او نوم اونښان ته دې هم څوک په ټیټه سترګه وګوري او په ټولنه کې دې په یوه بد نوم یاد شې.

- ښه نو ته ووایه زه څه وکړم ته چې څه وایې زه همغه شان کوم.

- بس زه نه پوهېږم چې هرڅه کوې خو خبر مې کړې، موبایل یې بند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اوف خدایه داڅه په مصیبت اوښتی یم، یو پنځه زره دعاګانې خوبه یې له ځانسره کړې وي، چې ای خدایه ته خویې پلار او مور هغو خلکو ته انکاري کړي خو ژر به یې له ځانسره وویل:

زه خو په رښتیا چې احمق یې ښه! که فرض کړو چې هغو خلکوته یې پلار انکار وکړ ایا زه له دې نجلۍ سره واده کولی شم؟

نه هېڅکله یې نشم کولای.

داچې اکرام له ولې په دې باوري وچې هغه هېڅکله له زینت سره واده نشي کولای دا یوه بله معمی وه، خو خپل زړه ته یې هم قناعت نشو ورکولی اونه یې زښت هېرولی شوه.

لاره ورنه ورکه وه، چې اوس څه وکړي.

اکرام په تعویذ ونو او بندونو ډېره عقیده نلرله، خو په دې ورځ دزینت لپاره له ماښام سره له اطاقه ووت، په دې لټه کې شو چې اوس یو څوک پیدا کړي چې له ده سره مرسته وکړي، په پوښتنو ګروېګنو یې یو تعویذ لیکونکی، پیدا کړو ژر ژر یې خبره ورسره شریکه کړه، هغه ورته وویل، چې زه دې کار کوم خو پیسې دې مصرف کېږي.

اکرام ورته وویل، څومره روپۍ پرې لګېږي؟ تعویذ لیکونوکي ویل شل زره افغانۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکرام په سترګو تیاره زیاته شوه، بدن یې مېږي مېږي شو ،له ځانسره یې د تعویذ لیکونکي خبره تکرار کړه.

ششششل زره ! !؟

په مخ یې خوله راغله

په قهر یې تعویذ لیکونکي ته وویل:

ته د انجلۍ ولور غواړې که ماته یو تعویذ لیکې؟

ملا په سړه سینه او لویه حوصله ورته وویل:

- بچو !که دومره اسانه وای او ته دومره باتور یې نو بیا په ماپسې د څه لپاره راغلی یې؟

- اوف خدایه پاکه ته خورحم وکړې،دانو په کوم غم کې ایسار شوم،له ماسره خو ټولې په جېب کې دوه زره افغانۍ دي.

نا امیده دتعویذلیکونکي له خنګه پاڅېده، روان شو، تعویذ لیکونکي ورته وویل راځه مراعت به درسره وکړم،زړه مې درباندې دردکوي ځوان یې کنه له شل زور څخه کمې نه اخلم.

خیر دی ته ۱۵زره راکړه، بیایې هم خبره ورباندې ښه ونه لګېده،ترې روان شو،نور یې نو نه غوښتل چې یوه خبره هم ور سره وکړي،له ځانسره په خبرو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اوس دې احمق ته وګوره،زه ورته دبانک رئیس ښکاره شوم،دخلکوله مجبوریته بده استفاده کوي،ته ورک شې اوستادې تعویذ ورک شي، زه هېڅ ستاسوپه دې کاغذونو عقیده نلرم خوڅه وکړم نن ډېر مجبور یم ،اوبو اخستی یم څکه زګ ته هم لاس اچوم،که څه هم په دې ښه پوهېږم چې دا زګ مې هېڅ دردنشي دواکولی،خو زړه مې ارام نه کوي او غواړي دخپل ځان دبچ کولو په خاطر له دېرو ستونزوسره په کلکه مقابله وکړي.

ای پاکه ربه ته خو راباندې رحم وکړه،ستاپه بنده ګانوکې خوهېڅ رحم نشته.

زه نوڅه وکړم، داخو ډېره ګرانه شوه،اوس کوم خوا لاړ شم.

له ځانسره لکه لېونی ګُرمېده اوراغلې لارې ته مخامخ شو.

چې بیایې د هغه ملا اواز واورېده، په دې سره ته هېڅکله هم نشې کولای چې خپله مینه لاسته راوړې،که هرڅومره ورپسې وکړېږې او له هغې سره ځان په غمونو او دردونوکې شریک وښیې،ته حوصله نه لري،نونشي کولای چې خپل مقصد اومنزلت ته رسېږې،خواوس په اکرام دهغو خبروهېڅ اثر نه کاوه،سم لکه دېوال ته چې لګیااوسې.

کله چې اکرام ببرته راتاو نه شو، تعویذګر وانګېرله چې مړی یې له خولې ووته،نو پسې ور روان شو،لګ لرې یې ودراوه، له مټ نه یې ونیوه، ته خوراشه ګوره داسې کار نشته چې الله ج ورته دحل لار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي پيدا کړي، ته راشه زه درسره مرسته کوم خير دی یوه انه هم مه راکوه،راشه زه پوهېږم ته اوس ډېر فشار لاندې يې،فکر دې سم کار نه کوي،خدای مکړه داسې کوم کار ونکړې چې هم ستا اوهم دهغې جلۍ په زيان تمام شي.

اکرام يې له ځانسره روان کړ،خپله جادوګري او چشم بندي يې پرې وکړه،دوه درې شوېستونه او يو کاغذ يې ورکړ،ورته يې وويل:

دامې دهمدې لپاره مخکې له مخکې ليکلي دي،ډېره خواري مې ورباندې کړې ده،پوهېږم چې زموږ ټولنه له داشان ستونزوسره ډېره مخ ده،خو ګوره چې دې ته به يوازې سور پوښ نه ورکوې نور چې هر ډول وي پروانکوي،په تلوکې يې ورته وويل اوس ستا خوښه چې هرڅومره شکرانه راکوې،هغه هم ددې په خاطر وايم چې تعويذ دې اثر وکړي،کنه په خدای که به مې يوه روپۍ هم درنه اخستې وه.

دجېب دوه زره روپۍ يې ترې واخستې او درخصتولو په وخت کې يې ورته وويل،ګوره ځوانه تعويذبه په مټ پورې وتړې،او ساختونه يا شوېستونه به نن ماخوستن څلور واړه په پاکه ګياکې وسوزې انشاء الله چې هغه څه به کېږي چې ستا خوښه وي خو ګوره چې بې غوري ونکړې،کار خدای پاک کوي خو موږ اوداتعويذونه يې ورته وسيله ګرځولي يو.

ترټولو جالبه خو داوه چې اکرام بايد ولي تعويذ په مټ پورې وتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام ته يې هېڅ خوند ورنکړ، په چټکۍ ترې روان شو ، همدا چې ورسېده ساختونه يې مخې سره وسېزل او دملا خبرې يې عملي کړې.

دشپې يوولس بجې وې چې دزېنت له موبايل څخه ورته پيغام راغی،همدا چې پيغام يې ولوست،موبايل ترې دځمکې په لور حرکت وکړ په ځمکه چې ولګېد ،بېټري يې يوخوا او کوور يې بلې خوا ولاړ،يوه درنه چيغه يې وکړه اوورسره ښه په اوچت اواز يې تعويذ ليکونکي ته په ښکنځلواوبدو ردو پيل وکړ،تعويذ يې هم سمدلا وشکوه لرې يې وغورځوه،ښه ډېريې وژړل،دځنګ اطاقونوڅخه يې هم ملګري راغلل،له اکرام څخه يې دپېښې علت وپوښت خوده هېڅ نه ويل،اخر يې کمال ته چې ترټولو ورته اعمادي وو اودزړه هره خبره يې ورسره شريکوله، وويل:

زينت يې بل چاته ورکړه !

هېڅ ځمکې ځای نه ورکاوه، ټول جهان ورباندې اور شو.

ای خدايه ! ته رحم وکړې، چې زينت به په څه حال وي،هغه خوبه مړه شي،زنګ يې ورته وواهه خو ځواب يې ورنکړ، بيا يې شمېره ډايل کړه، په دريم ځل فون بند شو ، يوځل يې بيابښه وژړل،خوب هم نه ورته.

لکه لېونی،يوځل يې کوټېندته لاس کړ،واسکټ يې واغوست،بس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځم ورپسې،داسې ونه شوه،په زور وي که په رضا زينت له کوره اوباسم،بيايې دټولو لاس خلاص،زه وګورم چې څوک زما مخې ته راځي اوس نو ددې په قصه کې هم نه يم چې زمونږ واده کيږي اوکنه زه دا نجلۍ د بل چا په کور کې نشم زغملی.

که زينت څه ويل اونه يې منله ،دومره به يې ووهم چې په ماکيږي،ملګرويې ورته نصيحتونه کول.

ـ اکرامه غلی شه ،څه له ځانه دې ماشوم جوړ کړی دی،دانو څه پېښې دي چې ته يې کوې،زور خودې ورسره نشته ،خپل پلاريې دی چې وريې کړه وريې کړه.

تاورته کله ويلي وو چې دالور دې ماته راکړه،کومه جرګه دې وراستولې وه اوکه هسې د هوا مرغان له خلکو اخلې؟

حوصله دې پرځای کړه،دادحل لاره نده،کومه چې تا نيولې ده،فکر ارام کړه اوس خو کار شوی دی،ستا دغه کارونه هېڅ ګټه نلري،نودانېه ده چې غلی کېنې.

دهغوی خبرو پرې يوڅه غبزه وکړه، په خپل ځای کې کېناست،ټول ملګري ورنه لاړل ،يواځې کمال ورسره پاتې شو،په دې خاطر چې داهلک څه چل ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه او دریمه ورځ یې زنګ ونه واهه،په څلورمه ورځ پوهنتون ته په لاره وه،چې دزینت موبایل ته زنګ ورغی،له دوه درې زنګونو تېرېدو وروسته فون اوکې شو مګر اواز بدل وو،بلې بلې بلې !خواکرام پرې غږ ونکړ،له هغې خوا اواز بیا راغبرګ شو، هرڅوک چې یاست بل وخت اړیکه ونیسئ،مور مې شفاخانه کې یو.

اکرام بیاداسې شو لکه څوک یې چې په سر ښه کلک ګذار ورکړي،دنیا پرې تاوه شوه،له دې خبرې سره یې زړه دومره په اوچت اواز درزا پیل کړه چې په خپلو غوږونو یې دا درزا داسې اورېده لکه څوک چې یې په ملا ډبوي.

څه شفاخانه !په زړه کې یې وویل لکه چې دې کم عقلې څه خاورې ایرې خوړلي.

خیر خیر یې ویل له نیمې لارې راوګرځېد،پښنوکې یې زور ختم شو،زړه یې مړشو، سترګو لیدل بس کړل،یوه لوړه ودانۍ وه ترڅنګ یې کېناست،مخې ته یې یوکراچۍ ولاړه وه چې یخې اوبه اوغیر الکولي مشروبات یې پلورل اواز یې ورته وکړ.

وروره یو بوتل اوبه خوراکړه.

وبه یې وڅښلې له پښنو یې مړه مړه خوله روانه شوه، تندي یې سوخت شروع کړ،ژبه یې ډېره وچېده،ښایسته څندوروسته یې ځان کې لږ متره پیداشو، په ډېر زور راپاڅېد،ورو ورو روان شو، هغه لاره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ځایه یې هره ورځ په لس دقیقوکې لنډوله،نن یې په پنځه ځلو ښت دقیقوکې ووهله.

همدا چې اطاق ته ورسېده،سره لړې ورباندې راغله،بدن یې لړزه پیل کړه،یخ یې شروع شو،دوه کمپلې یې واغوستې خو زینت یې نېغه سترګو ته ولاړه وه، یوځل لکه لېونی کمپلې یې له ځانه وغورځولې،پرېږده چې مړ شم،زه بدبخته.

خلک خودخپلې مینې لپاره ځان قربانوي نوماڅه وکړه،زه به هم خلکو ته دخپلې مینې اوبهادرۍ کیسې کوم؟

پکارده چې زهر وخورم،زمامینه دبل چاپه نوم شوه،اوماکمپله اغوستې پروت یم،څومره لاښه ښکارم.

په بیا بیا یې دزینت شمېره رخ کړه خو چاځواب ورنکړ.

سبا لس بجې یې پلارموبایل اوکې کړ،همدا چې بلې یې کړل،اکرام وپوهېده چې دزینت پلار سمندرخان دی،له هغې خوا بیا غږ وشو بلې څوک یاست؟

اکرام ځواب ورکړ:

السلام علیکم کاکا جانه !

وعلیکم سلام سترې مشې،څنګه یې؟

مننه خوشحاله دې اوسې کاکا جانه،کور موودان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان یې ورته د زینت د همصنفۍ ورور معرفي کړ.

زه حیدر یم د شپنې ورور هغې راته وویل چې خورجانه یې زینت ناروغه ده، ډېر زنګونه یې ورته وهلي خو ځواب نه ورکوي.

تاسو راته ویلی شئ چې خورجانه اوس څنګه ده؟

سمندرخان ځواب ورکړ:

عزتمندشې بچی! هو دخدای فضل دی اوس رکه روغه ده، خو استراحت کې ده،ډاکټرانوورته ویلي چې ترڅوورځوباید ارام وکړي،تاسوتشویش مه کوئ،شپنې لورته مې ووایه چې اوس یې خورکۍ ښېخي جوړه ده.

اکرام بیا وردمخه شو،زه خویې ورته وایم مګر دایې نه مني،که کېدای شي نو یوځل به ورسره خبرې وکړي چې زه د شپنې له جنجاله خلاص شم،ددې به هم زړه صبرشي.

هو ولې نه دومره خوکولی شي چې هغې سره خبرې وکړي،زه به موبایل ورته واستوم.

اواز یې وکړ.

جلوې !وجلوې !

اخوانه دکوچنۍ ماشومې اواز راغی څه وایې بابا !؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه دامبایل دې عمه ته یوسه، چې خورجانه یې ورسره خبرې کوي.

ماشومې مبایل واخست تر کوټې یې له ځانسره په وړه ژبه زمزمې کولې.

امه ! ای امه !

هه دا واخله، چادرته زنګ وهلی دی، بابامې وویل چې تاته یې راوړم.

مور یې ورسره ناسته وه ، ویې ویل دانو اوس خبرې کولی شي، خودامبایل بند کړی کنه.

مبایل زینت واخست، په غالب ګمان چې سکرین ته به یې نه وي کتلي، همداسې یې غوږ ته پورته کړی وي، په ډېر مانېچن او له غمه ډک اواز یې وویل:

بلې سلامالیکم !بلې ستا اواز نه راځي.

مور یې ورته وویل:لورې !ته دې خبرې وکړه زه درته بېرته ژر راځم.

اکرام شکر ووېست ښه شو چې داخوولاړه.

له دېخوا اکرام پرې په ډېره ملامته بڼه اواز وکړ.

زینت !تاولې داسې وکړل !؟

ایا تا دخپل ژونداوکورنۍ لپاره هېڅ فکر هم ونکړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زينت ټکان وخوړ چې دا خو اکرام ده تشويش يې شو چې له پلار سره به يې څنګه خبرې شوې وي، په ژړا شوه، فون يې بند کړ، خو اکرام بيا ورته زنګ وواهه. له اوکې کولو سره زينت وويل:

زه اوس روغه جوړه يم، ګرانې ته تشويش مه کوه. زه درته بيا زنګ وهم. اکرام پوی شو چې بيا يې څنګ ته مور او يا کوم بل څوک راغلل.

زړه يې ښه شو. له ځانسره يې وويل شکر خدايه چې له مرګه دې وساتله، په همدې وخت کې زينت ورته مسج را واستوه. ته زنګ مه وهه، چې هره لحظه راسره خلک وي، زه خپله درته فون کوم. اکرام په دې خبرې سره نور هم ډاډه شو.

دوه درې ورځې اکرام زنګ ونه واهه او نه زينت زنګ وواهه. اخر اکرام ځان کنټرول نه شو کړای، زنګ يې ورته وواهه، خو دهغې مبايل بند و.

په سبا زينت ورته زنګ وواهه، اول يې ښه ډېر ورته وژړل بيا يې ورته وويل:

اکرامه زه خپل ځان وژنم نن وي او که سبا، داکار به حتماً کوم خو تا نه يوه هيله کوم چې خپل ژوند په خپله طريقه پيل کړه زما په فکر کې نشې، تا ته زه په هغه مينه قسم درکوم چې له ما سره يې لرې زما په اړه به هېڅ تشويش نه کوې، داسې وانګېره چې ما او تا هېڅ نه پېژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ګوره ګرانې دادحل لارنده،کومه چې تا غوره کړېده، ته باید په دې پوه شې چې هرڅه په ازل کې شوي وي بل څه نه کېږي، موږ باید تل ،یوائې دځان په اړه فکر ونکړ اودزړه خبره ونه منو،ځکه دېرو خت دزړه خبرې اوفیصلې سمې نه خېژي،هیله کوم ځان هوښیارکړه.

داکرام خبره یې قطع کړه،هو دامنم څه چې په ازل کې شوي وي بل څه نه کېږي،خو زه پوهېږم چې زماپه ازل کې یې څه لیکلي دي،تاته خوشحاله ژوند غواړم اوماته دمرګ اوځان وژلو لپاره دموقع په لاس راتللو دعاوې کوه اکرامه !

ـ وګوره زینت ته ځان پوی کړه،هرڅه به خدای پاک سم کړي،زه پوهېږم چې ستاپلار هېڅ وخت ستاپه زیان کار نه کوي،ستالپاره یې چې کوم څوک ټاکلی دی،ترهرڅه لومړی به یې دهغه دکورنۍ،خپل اوخپلوانوپه اړه پلټنې کړې وي،بیابه یې دهلک په اړه هراړخېزې څېړنې کړې وي.

ستاپلار اومور خوله د ې خبر نه ول چې زه ا وته مینه کوو،زه پوهېږم که اوس هم ستاپلار خبر شي چې ته له یوه بل چاسره د مینې اړیکه لرې نوهغه به ډېر خفه شي اوکېدای شي چې دخپلې پښتونولی په سبب دمرګ ترپولې ستاترڅنګه درورسېږي،نوته هڅه وکړه چې خپل پلارجان خفه نکړې،زه پوهېږم چې داډېره سخته خبره ده،خو ګوره کوموا شخاصوته چې لوړ نومونه ورکول کېږي او قهرمانان یې بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی همدومره مشقت او دردونه ګاللي اوبیایې دانومونه خپل کړي کنه داهرڅه دومره اسانه ندي.

زینت جانې !زه هېڅکله هم تانشم هېرولی،ته زما دسترګوتور یې خو اوس هېڅ نشي کېدای،هغه څه چې زما اوستاپه فایده دي هغه ستاخپلې کورنۍ ته پام کول او دهغوی دعزت ساتل دي،زه به له تاسره په هره ستونزه کې مرسته وکړم،خوته یوائې زمایوه خبره ومنه ګرانې چې هېڅ داسې کارونکړي چې خدای مکړه سبادې کورنۍ ته ستاپه سر څوک پېغور ورکړي.

داسرار اتل دنظم دوه درې کړۍ یې ورته وویلې چې:

داضروري نده نادانې چې هم ستابه کېږي

دقسمتونو فیصلې په اسمانونو شوي

اوته په ځمکه کرښه راکاږې چې دابه کېږي

زه ستادمینې نه منکر نه یم خوڅه وکړمه

خوهغې بیاهم دواړه پښې یوې موزې ته برابرې کړې وې،دهغه خبره یې نه منله.

-بس هرڅه چې وي زمانور ژوند ندی پکار،زه بې له تاپه ژوند اور پورې کوم،نه یې غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ څه چې غواړم هغه مرګ دی،نور ته زما په اړه هېڅ اند ېښنه مه کوه.

بلاخره،دوه درې میاشتو کې یې هغه په دې قانع کړه چې زموږ په قسمت کې به همدا سې لیکل شوي وو.

دا چې دزینت زړه له ځانه صبر کړي په دروغو یې ورته یوه ورځ وویل ماهم کوژده وکړه.

خونه یې منله ورته یې وویل:

ـ ته دروغ وایې.

اخر یې ورباندې ومنله او قانع یې کړه چې دا خبره رښتیاده.

یوه ورځ زینت اکرام ته په ټیلیفون کې وویل،چې کابل ته دخپلې ترور کره ځي.

اکرام په دې خبره ډېر خوښ شو، ویل یې که قسمت وي کومه ورځ خوبه یې وګورم، ورته یې وویل:

ښه نو کله به راځې او رښتیا ټوکې کوې که رښتیا وایې؟

زینت ورته وویل رښتیا وایم،زه تا سره دا سې ټوکې لرم؟

دواړو وخندل،بس که دخدای رضاوي اوژوندی وم نو بلې اونۍ کې درځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زينت په ربښتيا بله اونۍ کابل ته لاړه،هره ورځ به يې له اکرام سره د ترور له لورګانو پټې خبرې کولې،يوه شپه يې دترور يوه لور چې مرسل نوميده په اطاق کې ورسره يوځای وه، اکرام ته يې زنګ وواهه،دټلوېزيون اوز هم پورته وو،خو ددې اواز يې سم نه شو اورېدای،اکرام ورته وويل:

ولې په جګ اواز خبرې نکوې؟

هغې ورته وويل مرسل راسره ده او ويښه ده، په خپل موبايل کې ګيم کوي ځکه په جګ اواز خبرې نه شم کولای.

په دې شپه زينت له اکرام سره څلور شپيته دقيقې خبرې په پسپکو وکړې،خوکله چې ٢٠دقيقې پوره شوې د مخابراتي شرکت لخوا په اتومات ډول اړيکه قطع شوه ،بيايې زنګ وواهه خو زينت ۴ دقيقې پس ورته وويل:

اکرامه ! لږ صبروکړه چې کمپلې لاندې نور په خولو خيشته پيشته شوم،ساه مې هم تنګه شوه.

دباندې ووتله،دمه يې وکړه،بېرته کوټې ته راغله زنګ يې ورته ووهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا ځل یې خبرې یو څه ډاډه اولورې وې، ټلویزیون اوس هم چالان و ،اکرام ورته وویل اوس نو څنګه په لوړ اواز خبرې کوې که مرسل درنه پوښتنه وکړي، څه ورته وايې؟

زینت ورته وویل:

مرسل ویده شوې او دټلویزیون ترڅنګ ده زما اواز نه اوري، که ویخه هم شي، زه یې وینم، بیا فون بندوم.

اکرام ورته وویل کوم وخت راشه چې چکر درکړم.

هغې وویل څنګه؟ دلته خو ډېر بیروبار دی، څنګه به شي ،ماسره خو تل مرسل او دترور نورې لورګانې مې وي.

اکرام ورته دپېښوریو په اصطلاح وویل:

کېنه مړې !

خو یوه پکې ملګرې کړه، خبره ورسره یاده کړه، ورته ووایه چې دلته مې دکورس استاد دی راځه چې سبایې څنګ ته ورشو،زه به ددفتر ادرس ردکړم،دواړه راشئ.

زینت ورته وویل سمه ده زه به هڅه وکړم چې لغماني چل پرې وکړم،خوکه بریالۍ شم.

هغه هم ډېره چهارصدوبیسته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام ورته وویل خیر ته خو یوځه وکړه،دومره به هم نه وي که بیاهم ونه شونو ماسره اړیکه ونیسه یوبل چل درته ښایم.

هغې وویل سمه ده،همداسې کوم خو ته صبر چې که مرسل راضي کړمه ښه ده هغه په کابل کې بلده هم ده.

په دې وخت کې اکرام له یوه ټلوېزیون سره دیوې خپرونې د پړۀ یوسر او پرزېنټر په توګه کار کاوه.

یوه ورځ چې دسبا یې دخپرونې لپاره مېلمانه راوغوښتل ترڅو خپرونې ثبت کړي، دوه مېلمانه یې پیداکړل اودد رېیم په لټه کې وو ،چې زینت ورته فون وکړ.

همدا چې فون یې اوکې کړ،هغې وویل:

اکرامه ! سباته وخت لرې، چې درشم؟

دخوشحالۍ ساړه یې په زړه ورننوتل.

ورته یې وویل:

دانو اوس خبره وه چې تاوکړه؟

ولې نه ګرانې ته به زما خواته راځې او زه به وخت نلرم؟

خو ګوره چې مرسل هم راسره ده او ای !

هغه ګوره ډېره شوخه هم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام ورته وویل:

پروانکوي، سباته زما دکار دفتر ته راشئ، ټلو بزیون ته به موهم بوځم.

ـ نه نه زه هلته نه ځم، خلک به مو ټلوېزیون کې وګوري.

اکرام په ټېلیفون کې په لوړ اواز ورته وخندل، نه لېونی نه دې وینې.

ـ ښه سمه ده ټوکه مې وکړه، درځو خو چکر به راکوې ګوره !

اکرام ورته وویل سمه ده تادې الله راولي، ځان به درنه ځار کړم.

ـ غلې شه اکرامه ! له دې خبرې مې اوس نفرت کېږي له هغې ورځې چې ته ننګرهار ته راتلې، مادرته همداخبره وکړه اوپه بله ورځ تاباندې موټر ټکر شو اوس مې، داخبره هېڅ نه خوښېږي.

ـ ښه سمه ده، ځان درنه نه ځاروم، زه هم دومره باتور نه یم.

سباته یې، له یوې تر درې بجو سټډیو بوک(ریزرف)کړه، مېلمانه یې هم په یوبل پسې وخت کې راوغوښتل.

سهار وختي پورته شولمونځ یې چې وکړ، له چای خښلو دمخه یې کلین شیف اوحمام وکړ، په ځان یې سمه خواري وکړه، نوې درېشي او نېک ټایي یې واغوستل، ښه قېمتي سپری یې استعمال کړه، لس بجې وې چې زینت زنګ ورته ووهه.

ته چې غوړی پورته کړ، هغې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ عالي جنابه !اوس خودې له دفتره راووځه کنه.

ـ څه راووځم مطلب دې څه دی ؟

ـ ته خو يوځل راووځه اويا ووايه چې کوم شعبې ته درننوځو ؟

اوچته پاڅېده، دروازه يې خلاصه کړه، ګوري دوه پتلون کړې جنکۍ، چې په غربي ستايل يې ځانونه جوړ کړي ،ددروازې مخې ته ولاړې دي، زينت تورې عينکې په سترګو او دعمه لور يې مرسل پاس په وېښتوکې ټومبلې وې،دواړوته يې،ښه راغلاست ووايه، دفترته يې دننوتلوبلنه ورکړه، داخل ته چې ننوتې،زينت عينکې لرې کړې، لاس يې ورکړ،ترڅېره يې داکرام لاس په خپل لاس کې کلک نيولی وو ،اکرام باور درلود ،که مرسل ورسره نه وای نو زينت ښه کلکه غاړه ورکوله، خومرسل يې مخې ته ديوال جوړ وو ،له دې سره تر سترې مشي، وروسته يې مخ مرسل ته واړاوه.

ـ مرسل جان تاسو ښه ياستئ؟

ـ هو مننه کوم صيب تاسو څنګه ياست؟

مرسل دزينت په لور مخ واړوه، ورته يې وويل:

ـ زينت جانې !دومره کوچنی او ځوان استاد ؟

ـ زه خو وايم چې ته به يې استاده يې.

هغې ورته وخندل،هو دازما استاد دی،او وياړم ورباندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسل چې اکرام ورنه دومره تمه نلرله همدا خبره یې پسې وغزوله، واقعاً چې با استعداده اوباسلیقه ښکاري.

اکرام ورته وویل، خوشحاله اوسې، اغلې مرسل، خو ودې نه ویل چې تاسې په څه بوخته یاست ، زده کړې مو څومره اوپه کومه برخه کې کړې، اوربنتیا ته هم د زینت په شان تنبله یې اوکه څنګه؟

د زینت تندی تریو شو د سترګوپه کونجونوکې یې اکرام ته وکتل.

مرسل ځواب ورکړ،زه دکابل پوهنتون د ژورنالېزم د پوهنځۍ ددوهم کال محصله یم.

دزینت لکه چې نور داکرام او مرسل په خبرو رخه راغله،په خبروکې یې وروړانګل:

خیر نوزه به ولاړه شم، بس همدا تاسو خبرې کوئ.

دربواوړو ښه په لوړ اواز وخندل،اکرام خپلې څوکۍ کې کېناست.

ددفتر مستخدم ته یې چې څنګه هدایت او رهنمایي کړې وه هماغه شان یې کړې و چای یې له څو ډوله کېکونو او بیسکټو سره راوړ.

مرسل وویل ښاغلیه،دې ته هېڅ ضرورت نه و، خو زینت غلې وه، دشیدو چای پیالوکې واچول شو.

زینت اکرام ته په موسکا سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخښنه غواړم،استاده کولی شم ستاسو له کمپیوټر څخه انټرنیټ ستفاده کړم؟

اکرام ورته وویل هو ولې نه !خولوړی داراته ووایه چې کمپیوټر او انټرنیټ سره دې کله بلدتیا پیدا کړي؟

هغې ورته وویل هغه تاچې داسانه انټرنیټ په نوم کتاب راکړی،کله کله مې د ورور په کمپیوټرکې دهمغې په مرسته کار کوم.

ښه سمه ده راشه مهربانې وکړه.

نجلۍ راغه د اکرام په نوم فولډرته ننوته،دانځورونو په کتلو بوخته شوه،ښایسته ځنډ پورې یې وکتل نوره بېرته دمننې په ویلوسره خپلې څوکۍ ته ولاړه.

دغه شان شپې څومره ژر تېرېږي دومره ژر ۱۲بجې شوې، نور نو باید اکرام ټلویزیون ته تللی وای،دوی ته یې وویل زینت جانې راځئ چې ځوتلویزون ته زه یو دوه خپرونې ثبتوم چې میلمانه مې راغوښتې ،تاسو هم له ځانه سره بیایم اوزه پوهېږم چې دشیدو چای اوبیسکټو مو اشتها خرابه کړه دخپرونو له ثبتولو وروسته به غرمنۍ وخورو.

مرسل وویل نه ښاغلیه ډېره ډېره مننه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږبه درنه ولاړې شو زه هم درسونه وايم ازموينې مې رانږدې دي بس دی تاسو موولیدلی زینت راته پرون وویل چې دلته مې استاد دی او ډېر راباندې ګران دی یوځل ورځو.

اکرام ورته ویل ډېرموښه وکړه خو که غواړئ زه خوشال شم دغرمې ډوډۍ ماسره وخورئ ما زینت ته ویلي زه یو دوه خپروني ثبتوم مېلمانه راځي، اوکه تاسو وایئ نوله مېلمنوبخښنه غواړم، رخصت به یې کړم، مګر تاسوبه ډوډۍ راسره خورئ،داحتمي او جبري خبره ده.

زینت غلې ولاړه وه، هېڅ یې نه ویل،اکرام پوهېده چې د زینت په زړه کې به دا خبرې تېرېده چې کاش مرسل ورسره نه وای، چې هغې خپل زړه ښه ورته تش کړی وای، خو داکرام لپاره مرسل ډېره په کټه وه.

مرسل هم ورسره ومنله،دټلوېزیون په طرف روان شول.

موټر راغی درې واړه پکې کېناستل،هلته چې ورسېدل، په دروازه کې دتلاشۍ په وخت کې یې ورته وویل دا دواړه مې مېلمنې دي،د نورو دوه مېلمنو نومونه یې هم ورکړل چې راورسېږي اوستډیوته یې رهنمایي کړي.

دوی ولاړل،زینت او مرسل یې انتظارخونه کې کېنولې،اکرام لاندې ښکته شو ، ترڅو کېمره مینان،پیدا او ستډیوبرابره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه همکاران خبر شوي وو چې له اکرام سره دوه ښکلې نجونې راغلي دي،ترهغې بېرته پاس ور خته دوه نجونې همکارانې يې له مرسل اوزينت څخه يو اوبل طرف ته ناستې او دزړه خواله يې ورسره پيل کړي وو.

خو دوی ورته د پرې زروړې نه غړېدلې.

يوې همکارې يې چې برېښنا نومېده، اکرام ته وويل:

اکرام صيب،دا مېلمنې خودې هېڅ خبرې نه کوي،خوماشاءالله يوه دبلې نه ښکلې دي.

هغه ورته وويل:

ستاسواو ددوی ترمنځ دومره فرق دی لکه د ونې او ديوال شارو ترمنځ چې وي،دادواړه دېوالي شاروګانې دي اوتاسودونې،نو دونې دشارو بچي،دد ېوالي شارو دبچيو په نسبت ژر په خبرورائي.

برېښنا او ورېمې په کړس خو زينت او مرسل له ځانسره وخندل،يوبل ته يې معرفي کړي،ورېمې چې دفېشن په نوم يوه خپرونه يې چلوله له زينت هيله وکړه ترڅوورسره يوه خپرونه ثبت کړي،خو هغې انکار وکړ،بيايې مرسل ته وويل هغې هم ونه منله.

په دې کې داکرام نارينه وو همکارانو هم يوه يوه سر راښکاره کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکرام یو مېلمه هم را ورسېده، نو اوس یې باید خپرونه ثبت کړې وای، زینت او مرسل یې بربښنا او وړمې ته وسپارلې، او خپله له مېلمه سره ستډیو ته ښکته شو، دخپرونې په پنځلسمه دقیقه کې باید وقفه اخستل شوې وای، همدا چې دوقفې اناونس یې ورکړ، پنځه شپږ جنکۍ، دتخنیک شعبې ته راننوتې، اوس نو داکرام دراډیودبرخې همکارانې، ځلا، سُنن، او یُسرا هم ورسره ملګرې شوې وې، کله چې یې دخپرونې اناونس ورکړ اولیدونکیو ته یې ښه راغلاست وویل، مېلمه یې مخاطب کړ، خومېلمه چې دوقفې پرمهال، یې دنجونوډله دتخنیک په څانګه کې ولیده، یودوه ترې هېر شول، خبرې ترې ګډې وډې شوې، اکرام تخنیکر، ته اواز وکړ: ستاپ.

نجونو ته یې وویل:

هیله کوم تا سو داځای خالي کړئ، خفه نشئ.

هغوی هم ببرون ووتلې، کله چې خپرونه خلاصه شوه، نو مېلمه داکرام یوشاعر ملګری و، اکرام ته یې وویل، برېدر دې ددوی لعنت شي، داڅه وو دا؟

هلکه اکرامه !مزې خو تاسو کړې، موږخو هسې وسوځېدو هههههه.

دی یې رخصت کړ، بل مېلمه هم رارسېدلی ووهغه یې هم ستډیو ته بوته، خپرونه پیل شوه، چې داځل یوائې زینت دتخنیک په څانګه کې راښکاره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام چې ولیده،زینت یواځې وه،نور یې هم ځان روب داب کې کړ،ترڅو زینت ته ځان په خپل کار کې ډېر بریالی وښیي.

هغې هم خوا ږه خوا ږه ورکتل،خو اکرام ځکه نه شول ورکتلای،چې له مېلمه سره یې په موضوع خبرې کولې او باید خپلې کمرې ته یې کتلي وای، دوقفې اخستوپه وخت کې یې زینت ته اشاره وکړه،ترڅو سټډیوته دننه راشي.

دخپرونې تخنیکرچې مصطفی نومېده،زینت یې راوسته،سټډیوکې یې دکمرې شاته په څوکۍ کېنوله،داخپرونه یې نوښه په مزه ثبت کړه.

دمېلمه له رخصتولو وروسته اکرام غوښتل چې ولاړشي،خو زینت اومرسل چې له یُسرا سره په راډیو روم کې وې، ورپسې ورغی،اواز یې ورته وکړ.

ځلا !

زمامېلمنې را پرېږده چې موږ ځو.

هغوی هم راووتلې،مرتضی چې په ټلوېزیون کې یې دموسیقۍ خپرونه مخکې وړله،له دربیم منزل نه ورته اشارې کولې،ددوی دټلوېزیون سټډیو ځمکتلې کې وه.

هرهمکار به یې چې زینت اومرسل ولیده نوخپل کار به ورنه پاتې و.

ځلا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام صیب، ته څوشېبې انتظار خونه کې کېنه زما له دوی سره کار دی، هغوی په دې کمو شېبوکې دومره خوږې دوستانې شوې وې، چې هېڅ ترې بېلېدلې نه.

د موبایل شمېرې یې هم سره یوبل ته ورکړې وې.

اکرام انتظارخونه کې وو ،چې څونفره همکارانویې ولید ،مخې سره یې پرې اوازونه پیل کړل.

اکرامه !اکرامه !

داحورې څوک دي اوله کومه دې کړي دي؟

نوید چې ډېر شوخ وو له اکرام نه یې غبرږه چاپېره کړه ورته یې وویل:

یاره بچو تاته خوزما دومره تمه نه وه، ته خوډېر وران وختې.

ټولو په یوه اوز وخندل.

اکرام ورته وویل:

غلي شئ خدای دې انصاف درکړي،دامې همصنفیانې دي،غوښتل یې زموږ ټلوېزیون وګوري، چابه یوه پوښتنه کوله،چابله،یوه به ویل اکرامه !

داچېرې ژوند کوي؟

بل به ویل نو د کوم ځای دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شبير وويل:

ماخو لاتر اوسه په پښتنوکې په داسې ستايل جنکۍ نه وې ليدلې.

نو ريې اکرام له پښتنو تنګ شو.

چې هغوی هم راوختلې، خو اوس هغه زينت او مرسل نه وې کومې چې له اکرام سره راغلې وې.

دهغوی دد فتر اراېشګرې په دواړو نوره خواري هم کړې وه.

دومره ښکلې ښکارېدې چې هېڅ اندازه يې نه ه.

دواړه يې خپلو ولاړو همکارانو ته ور وپېژندل.

دا زينت او دا مرسل ده.

زينت او مرسل هغوی ټولو ته د سلام په نيت سرونه وخوځول.

اکرام هغوی ته وويل:

ښه نو هلکانو ! دخدای پامان، مونږ پوهنتون ته ځو.

مرسل او زينت له نجونو سره خدای پاماني وکړه او روان شول.

وږمې ورپسې اواز وکړ:

ـ اکرام صيب دوی به بيا هم کله راولې ښه !

ـ ښه سمه ده راولم يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددروازې څخه په وتلوکې یې یوې بلې ته لاسونه وخوځول اوداسې یې وویل:

ـ بای قندولکو !

دد فتر موټر کې کېناستل، راروان شول، موټر یې په شهرنوکې رخصت کړ، دوی یولوکس هوټل ته ننوتل، دغرمې ډوډۍ یې نږدې درې بجې وخوړه، له ډوډۍ خوړولو وروسته زینت وویل، استاده ډېره ډېره مننه، نن مې د ژوند تر ټولو له خوښیو ډکه ورځ ده.

کاش هره ورځ همداسې وای.

اکرام د شوخۍ په ډول ورغبرګه کړه.

بس ما سره ګرځه هره ورځ مزې کوه.

مرسل هم مننه وکړه، ډېره خوشحالي، یې څرګنده کړه، ویل یې:

واقعاً نن ښېله ورځ وه.

اوس نو هغوی دواړو غوښتل چې ولاړې شي، ددې ورځې په جریان کې څوځله له کوره ورپسې، زنګونه، هم ووهل شو، زینت وویل: چې مور ځو اکرام هم رخصت ورکړ، خو ورته یې وویل چې پټه ولاړه نشې، هرکله چې تللې ما خبر کړه.

زینت وویل حتماً دې خبروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د خدای پامان،زینت لاس ورکړ،او دواړه په چکر چکر روانې شوې.

اکرام ترهغې ورپسې کتل چې له سترګویې پنا شوې.

کورته چې ورسېدې نو مرسل زنګ ورته وواهه.

سلام اکرام صیب !

ولا ډېر خوند یې وکړ، ډېره مننه له مېلمه پالنې څخه مو ،مورې کورته راورسېدو.

دوهمه ورځ زینت اکرام ته فون وکړ:

ـ زه همدا اوس روانه یم ،جلال اباد ته،اکرام ورته وویل داڅه وایې،او ولې داسې یوناڅاپه؟

هغې ورته وویل ورور یې ورپسې راغلی دی او باید ولاړه شي.

اکرام غوښتل هغې ته یوه ډالۍ واخلي خو اوس یې امکان نه وو ،خدای پاماني یې ورسره وکړه،کله چې کورته رسېدلې وه، بېرته یې دااکرام د اطمنان لپاره ورته زنګ وواهه.

دوه ورځې یې خبرې ونکړې، اکرام بیاد خپل زړه له بدې ګواهۍ ډېر تنګ شو ،له ځانسره یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتماً بیاکومې بدمرغې بلا دده په لور دقدم ایښودلو نیت کړی دی،له ملګروسره ناستې پاستې هم خوندنه ورکاوه،همدا دلیل وو چې ډېر وخت به ورنه بیل او ځانته ګرځېدده.

سهار چې دفتر ته ولاړ،کمپیوټر یې روښانه کړ،بې له کوم څه کولو یې بېرته بندکړ، ددفترمستخدم غلام ته یې اوازوکړ:

غلام کاکا !

که زحمت درته نه وي ماته خویوه پیاله شین چای کتابخانې ته راوړه،هغه هم دښه صیب په ویلو سره دچایو دترموز په طرف روان شو،اکرام چې کتابخانې ته ننوت،په الماریوکې په ایښودل شویو کتابونویې نظر تېرکړ،پرته دکتاب راخیستلوڅخه په کوچ کې په چټکۍ سره کېناست،په ښي لاس یې خپل تندی ونیو، دهسک په لور یې وکتل.

- ای خدایه!ولې دې زما ژوند دداسې دغمونو او ستونزو په ګردابونوکې ایسار کړی دی،ولې راته یوه دحل لاره نه ښیې،زه به نو ترڅو داسې یم،ای الله یو احسان خوراباندې وکړه،هغه څه راته راکړه چې تایې هر مخلوق ته دورکولو ژمنه کړې،خو نن زه درنه خپل هغه حق له وخته دمخه غواړم.

ای پاکه خدایه ماته مرګ راکړه،زه نور په دې بدرنګه نړۍ نه غواړم قدم کېږدم،دانوڅومره له بدمرغیوډکه دنیاده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې يې پورته کتل ،له ځانسره يې خبرې کولې چې د کتابخانې دروازه ټک ټک شوه ،ځواب يې ورنکړ.

غلام کاکا دروازه نيمه راخلاصه کړه.

ـصيب ! زه داخل ته راشم؟

ـهوډېروبخښه کاکا

غلام کاکا څه ونه ويل د چايو پياله چې له يو چاکليټ سره په شيشه يي قاب کې اېښودل شوې وه په ميز يې کېښوده او له کتابخانې ووت،اکرام مخ کې ايښې مېز په زوره په سوک وواهه،نږدې وه پياله ترې چپه اولاندې وغورځوي،همداسې يې چپ طرف الماری نه يوکتاب راکش کړ،دامريکايي ليکوال ډيل کارنګي لخوا ليکل شوی (دژوند لار ) کتاب وو چې پښتو ته ژباړل شوی وو ،دکتاب دمنځ پاڼې يې پرانيستې،خوکتاب کې ورته د توروپرځای دزينت ښکلې څهره ښکارېده،چې دامهال ډېره غمجنه اوله يودنيا فکرونوسره يې دده سترګوته کتل.

ـاووفف ګرانې دلته هم ته يې؟

بيايي شروع وکړه،زه نوڅه وکړم، اخر څه وکړم،ماته خوهېڅ چل نه راځي،زه څنګه تر تا در ورسېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای خدایه چې مینه اومحبت دې پیداکاوه نو داپښتودې ولې ورسره پیداکوله.

سپینې اوښکې یې په مخ روانې شوې،دازه په څومره سخته ازموینه کې راګیریم،بیابه یې وویل.

په ماپسې بلا چې زینت به څنګه وي ویل یې چې نن سبایي دواده نېټه هم ټاکل کېږي،چې څه به شوي وي ،دادوه ورځې مې ورسره خبرې هم ندي کړي.

زینت ورته ویلي و چې اوس ورته له ده سره خبرې ډېرې ګرانې شوې دي ځکه چې ټول دواده په اړه خبرې کوې،څوک دنجلۍ لپاره لباسونه،فرش اوظرف اخلي،څوک دهلک لپاره اوڅوک دمېلمنوپه اړه خبرې کوې.

ددې لپاره چې اوس زینت له پخوانه یوڅه ښه شوې وه،ناروغي یې هم ښه وه،خسرګنۍ یې هم بیړه کوله چې اینګور ترکوره کړي،خاوندیې هم ډېر ورته وارخطاوو.

اکرام پیاله خولې ته پورته کړه خولایې ورنه غړپ نه وو کړی،چې موبایل یې وشرنګېد ،بېرته یې پیاله له قاب نه اخواپه میز کېښوده ،موبایل یې وکوت ګوري چې د زینت زنګ دی.

داخوزینت ده،کاش چې بد زیر راته ونه لري،نور یې نوهېڅ توان نلرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه نازړه يې د تائيد تنې کېکاږله.

ـ ها ګرانې ته څنګه يې؟ !

ـ زه ښه يم اکرام او ته څنګه يې؟

ـ هيله کوم له مادا مه پوښته چې څنګه يم،له سترګو مې اورونه الوزي،نه پوهېږم څه وکړم ؟

ـ هېڅ مه کوه،ته خبريې چې راتلونکې پنجشنبه دواده ورځ وټاکل شوه؟

ـ هاا ؟څه وايې ؟

ـ رښتيا وايم،بيګاه هغوی راغلي وو ،خبره يې سره وکړه.

اوف زينت ! بس يوا ځې همدا زيری پاتې وو او داغم مې نه لاره چې کله به له تاسره نور دخبرو کولو اودتل لپاره دليدو چانس له لاسه ورکوم ،دادی داتيګه دې هم په سر راته ونيوله،اوس يې راباندې راوغورځوه چې ورلاندې شم او ببخي رانه خلاصه شي.

زينت وويل،ولې ته څه فکر کوې چې زه د ېره خوشحاله يم؟ته پوهېږې چې زما زړه له وينوډک دی؟اوبيا خوتاته ماويلي وو کنه چې زه ژوندی نه پاتې کېږم اومرم.

ـ په دې خاطر چې زينت ته يو څه روحيه ورکړي ورته ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو څه وکړو ګراني ته وو ایه، تاته خومې په هغه ورځ هم وویل چې راځه کومه خوابه ولاړ شو، څه وخت وروسته به مشرانوته خبر ورکړو ،ګوروبه ورسره چې هرڅه کېدل، خوتا ونه منله.

زینت ورته وویل زه پوهېږم چې ستاخبرې په واک ندي،بس دابه زموږقسمت کې ول،اوس غواړم له تاسره یوځل بیاهم وګورم که بیامړه شم نو هېڅ ارمان به مې په زړه نه وي،زه په دې ښه پوهېږم چې تاته به دلته راتلل ډېر مشکل وي،ځکه په دې وروستیوکې ډېر ژر ژر راغلې اوس به نو په دفترکې هم درته څوک اجازه نه درکوي اوستابهانې به هم نورې خلاصې شوې وي چې هغوی ته یې وکړې.

خوکه ته راشې او زه دې ووینم که بیامړه کېږم هم ځنکدن خوبه مې یوڅه ارام وي.

اکرام ورته غوصه شو.

ـ ته ولې داسې وایې،ته خوښېخي له ژونده نا امیده یې،خیر دی،خدای پاک خومهربانه دی.

زینت په مات زړه وخندل،هو ښېشکه چې مهربانه دی خو په ما اوتا باندې ندی مهربانه.

کنه وګوره ولې یې زمونږ ارمانونه پوره نکړل؟

نو اکرام هیله کوم درنه راشه او زما وروستۍ ارمان پوره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرام ورته وویل بس ته اوس دا خبرې پرېږده زه حتماً درځم، که همدا نن هم راته په دفترکې ځواب راکوي ورته تیار یم، خوستالیدوته به درځم.

-ښه نو کله به راځې؟

- که ستا غمونو ونه وژلم نو د سه شنبې په ورځ درځم.

زینت هم سه شنبه مناسبه ورځ وګڼله ځکه په چهارشنبه کېدای شي دلرې ځایونو مېلمانه راشي.

اکرام ورته وویل ښه سمه ده اوس دې خدای مل شه،زه چې در ورسېدم فون درته کوم دلیدو ځای به وټاکو ،ته په ځان پام کوه.

خدای پامان ګرانه ستادلیدو په هیله.

اکرام سره تنهې زور کړه.

ده ته اوس له دفتر نه په کور کې بهانه جوړول ډېر سخت وو ،ځکه په یوه میاشت کې څلور ځله ولاړ،هلته به چې په کور کې ترې پوښتنه شوه چې څنګه مخکې خوبه میاشت،څلوېښت شپوکې یوځل راتلې اوس څنګه هره اوونۍ راروان یې؟

ده به ورته وویل چې دلته په جلال اباد کې چې زموږ ددفترڅانګه ده،دلته یې دځینو کارونولپاره مرکزي دفتر را استوي،په دې خاطر چې دی ورته تر نورو ډېر اعتمادي شخص دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ به يې هم باور وکړي.

ددوشنبې په ورځ له دفتر نه درخصتيدو وروسته يې دننګرهار لاره ونيوله،څوځايه لاره هم بنده شوه،دشپې يوولس بجې کورته ورسېد،ټول ويده وو،ده هم څوک خبر نکړل،له خپل کشر ورور،ساحل سره په حجره کې ويده شو.

ساحل ورباندې پوی نه شو،سهار چې ويښ شو ګوري ترځنګ يې بل څوک هم پروت دی خوکمپله کې يې ځان تاو کړی وو پته يې نه لګېده چې څوک دی،له ځانسره يې وويل چې کېدای شي کوم دتره ځوی يې وي.

اکرام چې دشپې مزل ډېر ستړی کړی وو دسهار لمونځ هم ترې قضاشو،اوه بجې وې چې راويښ شو،ساحل مطالعه کوله،چې ده ورباندې اواز وکړهلکه ساحله ! ستړی مشې.

-وی ! !لالا داخوته يې کنه راغی ستړي مشي يې ورسره وکړه.

کله راغلی يې؟

-دشپې ناوخته وه.

-زه خوبه دې را ويښ کړی وم کنه.

-هسې مې ولې له خوبه وبستی وې ته هم ټوله ورځ کار کوې ستړې به وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه کور کې خلک خبر دي چې ته راغلی یې؟

ـ نه هېڅوک هم ندي خبر.

ـ ښه ځه چې ځو چای به هم تیار وي.

دواړه ورو ښه کورته روان شول، انګړته چې ننوتل، ماشومانو چې اکرام له ساحل سره ولید نو چیغې یې کړې هلې ګل لالا راغی.

ټولو یې مخې ته رامنډې کړې، راحب چې د اکرام د وروور شفق ځوی وو، له ونې هم ټیټکی و بل داچې اوس تازه په خبرو راغلی ولکه طوطي میده میده خبرې یې کولې، د اکرام په لمنې پورې ونښت.

ـ کاکا ماته چیشی؟

(کاکا ماته دې څه راوړي دي؟)

کرام جبب ته لاس کړ لس افغانۍ یې ورکړې.

ـ هه داواخله تاته مې ډېر شیان راوړي دي خولاندې مې د ابراهیم په دکان کې ایښي ، ورشه پیسې ورکړه او شیان به درکړي.

کوچنی خوشحاله د خپلې مور په لور روان شو.

اکرام د مور کوټې ته ننوت له ټولو سره یې روغبړ وکړ، د مور لاسونه یې ښکل کړل، هغې ورته وویل ځویه څنګه په دومره سهار وختي کې راوسېدې خیریت خو دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو مورجانې ! خیریت دی،اوس نه بلکې دشپې راغلی یم خوداچې ناوخته وه،تاسومې په عذاب نکړئ،ډوډۍ مې هم په لاره کې خوړلې وه،نومې دابهتره وګڼله چې اوس وګورو.

ټول کېناستل چای تیار و ،په شریکه یې وڅښه.

اکرام خپلې خورڅانګې ته وویل که زما جامې وي او اوتو ورباندې وګرځوې نو ښه به وي په ښار کې یوڅه کار لرم دا جامې مې خېرنې شوې دي،هغه هم پاڅېده اولاس په کار شوه.

څانګې ورنه پوښتنه وکړه لالا ،په موټرسایکل ځې؟

هو !

هغې ورته په موټرسایکل هم ټوټه ووهله.

یوولس بجې له کوره ووت.

ټولوته یې وویل دبیالیدوپه هیله.

اکرام چې له کوره ووت ،مور یې لورګانوته وویل:

ـ نن راته هلک خوشحاله نه برېښېده،خدای مکړه کوم مشکل خوبه ورته نه وي پیښ شوی،دسرخیر دې یې وي.

یوخومې سل ځله ورته ویلي چې په دغه میراثي موټرسایکل مه ګرځه،زما نه خوښېږي،داډېر بدمرغه شی ده،له ډېرو ځوانانویې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانۍ وخوړې، دهیچالحاظ نه کوي، یوځل چې له یو شي سره مازې ولګېده بیا حتمي مرګ ژوبله رامنځته کوي.

لورګانویې په یوه اواز وویل:

بسم الله دې وي،خدای مې دې لالا پلو وي،مورې دعاورته وکړئ،چې پخیر بېرته راشي کورته.

ثانګې وویل نن ماته هم ښه نه ښکاربده، د جامو ورکولو په وخت کې ماهم ترې پوښتنه وکړه، چې لالا !خفه غوندې راته ښکارې، خوهغه وویل چې،هېڅ خبره هم نشته،تاته همداسې ښکارم.

کله چې زه له خونې دباندې راووتم ،چا ورته نګ وواهه دهغه نفر خبرې خومې نه اورېدلې،مګر لالامې ورته وویل : ته حوصله په ځای ساته هرڅه به سم شي،زه کور کې یم،اوس درځم.

دمور اندېښنه یې نوره هم زیاته شوه، فشار یې پورته لاړ پرېوته،لورګانو ژر درمل راوړل ور یې کړل ،اوبه یې پرې وپاشلې،په لږ وخت کې بېرته کېناسته.

اوس هم ډېره ناقراره وه،زړه یې نه صبرېده،لورګانوته یې وویل:

تاسو مبایل راوړئ چې زه ورته زنګ ووهم.

ثانګې موبایل ورکړ،شمېره یې ډایل کړه،خوداځواب یې دترلاسه کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ کومه شمېره چې تا سو غواړئ ورسره اړیکه ونیسي، مصروفه ده.

بیا یې زنګ ورووا هه، خودا ځل یې زنګ تېرولو سره waiting call ولیکل، اکرام چې ولیدل دکورشمېره ده ځواب یې ورکړ.

ـ بلې !

ـ ځویه ورسېدې پخیر؟

ـ سلام مورجانې ته یې؟هو ورسېدم.

ـ ای ځویه !ته خوبه ښه یې کنه، ماته نن بل ډول په نظر راغلې؟

داکرام زړه چې اوس ډېر کمزوری شوی و ،راډک شو ،ستونی یې بند شو ، کله یې ویل راځه ښه ډېر ورته وژاړه، چې زړه دې سپک شي، خو ددې لپاره چې مور به یې له ډېرتشویش څخه مړه شي، په دې خاطر چې اکرام ډېر ورته ګران وو.

دخپلې ژړا دورکولو لپاره یې په تېزه وټوخل، او غولونکې خندا یې وکړه.

نه نه مورجانې هېڅ خبره هم نشته، روغ رمټ یم، ته هېڅ فکر مه کوه ، کارونه مې خلاصوم، او ډېرژر درځم پخیر، دعاراته کوه مورې !

مور یې وویل تل دې دخدای پاک نظر درباندې وي، دهغه (ج) درحمت سیوردې په سر اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه مورجانې مینه درسره لرم،دخدای پامان.

اکرام چې تر دې دمه دخالد په دوکان کې ولاړو ،موټرسایکل یې ورته وسپاره،ورته یې وویل چې زه ښار پورې ځم، او بېرته راځم،دخالد دوکان له ښاره یوڅه وتی و ، هغه ورته وویل غرمه ده ډوډۍ وخوره بیا ولاړ شه.

خو اکرام نن یواځې د زینت لیدوته ډېر وړی اوتږی وو ، نو یې ورته وویل:

مننه دادې درباندې قرض وي اوس موړ یم، همداسې روان شو ، په یوه سټرینګي ریشکاکې کېناست، ولاړ ښارته اوله ښاره دزینت دوی دکلي په لور.

لومړی ځل وو چې دهغوی کورته ډېر نږدې ورته.

داهرڅه ورنه هېروو چې کومه ستونزه به ورته پیداشي، څوک به یې ووینې، اویابه وشرمېږي.

کله چې کلي ته ورسېد زینت ته یې زنګ وواهه ،هغه چې داکرام دفون په تمه وه،له اوکې سره یې وویل:

-چېرې یې ګرانه تاخوزه په انتظار، انتظار مړه کړم.

- زه را ورسېدم،سیده ولاړ دزینت دوی باغ ته ،قسمت ورسره یاري وکړه، دروازه خلاصه وه خو باغوان ورڅخه لرې و ،څارویوته یې ګیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچوله،اکرام هغه ولید خودباغوان ورته فکر نه شو چې دی باغ ته ننوت،باغ دکور له طرفه هم دروازه لرله،چې د ترکارۍ او مېوې شکولو لپاره به یې ورڅه استفاده کوله.

زینت ددې په خاطر چې څوک وربانديې شک ونکړي چې څه کوي باغ ته ځي ،خپل کوچنی وراره یې ،له ځانسره له لاسه راونیوه او په دې بهانه چې هغه ته چکر ورکوي باغ ته داخله شوه.

داکرام چې ورته فکر شو ،بې فکره یې پر طرف ور روان شو، خو زینت ورته دحوصلې کولو اشاره وکړه.

په داسې حال کې یې دستړي مشي په نیت زینت ته لاس وراوږد کړ چې له سترګو یې یو مخ اوښکې بهېدې.

هغې ورته وویل حوصله پرځای کړه ،راځه چې هغې طرف ته ولاړ شو، هلته دګلانو لوړ،لوړبوټي دي ونې هم ګڼې دي نو څوک به مو نهویني.

همداسې یې وکړل.

ګلانوته ورسېدل دواړه یوبل ته مخامخ کښناستل ،درد او اومینې خبرې یې پیل کړې.

اکرام خپلې ګوتې د زینت په ګوتو کې ورکړې.

ښه ګرانې ښې ډېرې خبرې راته وکړه،نن راته هغه خبرې هم وکړه چې غواړې څو ورځې وروسته یې راته وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زينت ورته وويل:

نه !نن يواځې درته ګورم او خبرې نشم کولای،خدای خبر بيابه دې وګورم اوکنه.

هسې هم مرم پاتې کېږم نه.

هيله کوم زينت ! داسې مه وايه.

ای ساده ګۍ !په مينه کې چې دردونه،غمونه،بېلتون،ژړاګانې او اوښکې تويول نه وي نو بيا خو خوند نه کوي،هغه چامينه کړه اوهغه به لاڅنګه مينه وي چې داشيان پکې نه وي.

زينت په وچواوپټريو نيوليو شونډو په غلي اواز ورته وويل:

- هو ګرانه ته ښه وايي خو له دومره غمونو ګاللو اوزغمولو وروسته خوبيا وصل په منځ کې وي کنه !؟

ته ماته ويلي شې چې زما اوستادمينې دې پيوند ته کوم نوم ورکړو ،دې ته څه ډول مينه وايي؟

دوی په خپلو خبرو ګرم وو له زينت نه يې وراره هېرشوی وو ،څو شېبې يې ددې ترڅنګ لوبې وکړې، داپه خپله مينه مسته او مصروفه شوه کوچني ماشوم يې نور له سترګو اوفکر څخه پناه شو.

هلک په کوچنيو پښو کورته تللی و، دوه بجې وې چې زينت اکرام ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ګرانه هېڅ مې زړه نه کېږي چې له مخ نه دې بل طرف ته وګورم، او هېڅ مې زړه نه غواړي له دې وروسته له بل چا سره خبرې وکړم.

غواړم ګونګه شم.

نو ګرانه هسې نه څوک راباندې پوی شي، مړه به مې کړي، دخپل ځان غم نه راځي.

تابه هم راته مړ کړي.

اکرام چې دزینت له خولې داخبره په ژړغوني اواز واورېده چې: تابه هم راته مړ کړي، ټوله دنیا ورته ړنده په نظر ورغله، له زینت نه یې لاسونه چاپېرکړل، په زړه پورې یې دومره کلکه ونیوله، چې هغې ورته ویل ډېر زور مه راکوه.

دزینت په اوږه یې مخ ولګوو، یودبل دزړنو دربایې ښه په اسانه اورېده.

دوه درې دقیقې یې همداسې سره نیولي وو، چې زینت هڅه وکړه، ځان ترې خلاص کړي، اکرام هم دلاسونو حلقه سسته کړه، زېنت ورته کتل، اوویې ویل:

ـ ګرانه! یواځې له تاسره مینه لرم.

ـ زه هم یواځې تاسره مینه لرم، ته مې اوله او اخره مینه یې زینت!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زينت يې لا پوره پرې اينبې نه وه چې له څو پرلپسې فيرونو سره دواړه هماغه شان نښتي د ځمکې غېږې ته د ګلانو په فرش ور پرېوتل، زينت پر ګلانو او اکرام د زينت پر سينه نسکور شو .

د زينت مشر ورور شکيب دوه ضربې نورې هم پرې وچلولې او د دواړو په وينو يې د باغ ګلونه خړوب کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال چاپ
# ته
# چمتو اثار

- خبرې مرغلرې (مرکې)
- د ادب پنډ غالی (ادبي ټوټې او لیکنې )

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۰۶

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**